د ۱۳۸۱ کال د غبرګولي ۱۶

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون

# د ويروني هڅې او وژنې:
# د افغانستان د ملکی وګړو په وړاندې د دولت د مخالفينو سرغړونې

د ویروني هڅې او وژنې:

د افغانستان د ملکی وګړو په وړاندې د دولت د مخالفینو سرغړونې

1_ دمطالبو لنډیز
2_ سریزه
3_ کاري واک او میتودولوژي
4_ له ویروني څخه تر وژلو پورې دملکي خلکو پر وړاندې د دولت د مخالفینو سرغړونې
الف : د ویروني پیل؛(شپې پاڼه )او ژبنی (شفاهي) ګواښ
ب : تاوتریخوالی ډېرېدل : له سرې تښتوني څخه تر ورانکاري
ج : سختې سزا ګانې : وژل،د بدن د غړیو پریکول،وهل او ټپي کول
۱_ پر ملکي وګړو ډزې کول
۲_ سر پریکول ، اعدامول،او دبدن دغړو پریکول
۳_ غولوونکي ځانمرګي بریدونه
5_ د جګړې نورې ناقانونه لارې چارې: له توپیر پرته د توغندیو بریدونه او له پو ځي یونیفورم څخه ناوړه ګټه اخیستنه
6_ د دولت د مخالفینو د سرغړونو اوږد مهاله پایلې
الف : بیکاري
ب: روغتیایي خدمتونه
ج : ښوونه او روزنه
د : د خسارو جبران او بشري تدارکات
7_ د امنیت په ټینګولو کې د دولت پر ناکامی باندې باورونه
8_ پایله – پای
9_ وړاندیزونه

د مطالبو لنډيز:
عام وګړي په زياتېدونکي توګه په افغانستان کې د وسلوالو شخړو اغېزې احساسوي. په دې شخړو کې د دولت مخالفين او هم په دغو شخړو کې نورې ښکېلې خواوې د هغه تاوتريخوالي مسوول دي چې پر ملکي خلکومنفي اغېزه کوي.
دا رپوټ ددې ښودنه کوي چې طالبان او د دولت نور مخالفين په څه ډول د افغانستان د دولت د کمزورې کولو په لاره کې په سيستماتيک ډول عام وګړي د شبنامو ،سرې تښتونو ،وژنو( په عام ډول د سر په پريکولوسره) او د نورو جرمونو په تر سره کولو سره ويروي.
طالبان د هغو هڅو په ترڅ کې چې غواړي د دولت ملاتړ له منځه يوسي ،د ملکي او پوځي اهدافو تر منځ په توپير کولو کې پاتې راغلي دي او په لوی لاس يې عام وګړي خپل هدف ګرځولي.د هغوی په هدفونو کې ډاکټران ،ښوونکي،زده کوونکي،قومي مشران ،دپوهانو د شورا غړي،د دولت ملکي کارکوونکي،د موادو ليږدونکي او ورځني مزد اخستونکي کارګر چې د بياجوړول په ټول ګټو پروژو کې کار کوي او د پوځ او پوليسو څخه تقاعد شوي کسان دي. مثلا ډېر ليدل شوي چې يوازې د دولت سره د کار کولو په تورا‌و يا د دولت سره د وفادارۍ په جرم د هغوی د بريد له پاره کافي ګناه بلل کيږي.
ددې له پاره چې د دولت څخه د خلکود ملاتړ کچه نوره هم راټيټه شي نو ياغيان ښوونځي ،روغتيايي خدمتونو بشري مرستې او سوادا ګريزې ليکې د خپل هدف په توګه ټاکي. دا ډول بريدونه برسيره پر دې چې قربانيانو ته سم له لاسه زيان اړوي نو په اوږد مهال کې هم خپل تاثير پر ولس باندې ږدي، په ځانګړي توګه به په دې رپوټ کې به په ټولنيز ،اقتصاد،پوهنې ،روغتيايي خدمتونه وڅيړل شي.
په دې رپوټ کې ډېره پاملرنه هغو سر غړونو ته شوې ده.چې دطالبانوله خوا اسلامي اصول،ملي او نړيوال قوانين د ۲۰۰٦زکال څخه بياد ۲۰۰۸ ز کال پورې ترپښو لاندې شوي دي. هغه کړنې چې په دې رپوټ کې راوړل شوي هغه د اسلامي شريعت او د افغانستان د ملي او نړيوالو قوانينو سره په تضاد کې دي. په پورته درې واړه اصولو کې وينو چې څرنګه د جګړو په وخت کې د ملکي کسانوخوندي ساتنه راغلې ده ،چې هغه هم په دې رپوټ کې شامل دي. داسلامي پوهانويوه دروند هيئت داسلامي شريعت په رڼاکې دغه ډول سرغړوني څېړلي دي، د هغوی په قول چې د طالبانو دغه ادعا چې هغوی ته د اسلامي اصولو مراعتول تر ملي اونړيوالوقوانينو معتبره وي د طالبانو درواغ رسوا کوي.
ددې رپوټ په څېړولو سره چې د دولت مخالفين په افغانستان کې د ډار اچونې هڅه کوي نو د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کمېسيون پريکړه وکړه چې ددغه څه د روښانه کولو له پاره اوږده څېړنه وکړي. د کمېسيون د څېړنې ټيم د سلوڅخه ډېروقربانيانو، شاهدانو،قومي مشرانو،او دسيمه ييزو دولتي کارکوونکوسره مرکې کړي دي تر څو د دولت د مخالفينو هغه سر غړونې وڅېړي کوم چې د ملکي کسانو په ضدکې يې کوي . دغه معلومات د هيواد د ډېرونا امنو سيمولکه ختيځ ، جنوب او جنوب ختيزوسېموڅخه په لاس راغلي دي.ددغه ټولومعلوماتو برسيره ددغه په پای کېد افغانستان دبشر حقوقوخپلواک کمېسيون خپل ښکاره وړانديزونه په هيواد کې په پوځي جګړو اخته خواووته وړاندې کړي دي.
پېژندنه_1
دافغانستان د بشر حقوقوخپلواک کمېسيون د بشري حقونو د سرغړونې په اړه اود نړيوال بشردوستانه حقوقو(دجګړې قوانين) سرغړونې چې د هيواد دپوځي ځواکونواوياد نړيوالوپوځي ځواکونوپه وسيله سرته رسيدلي دي څو څېړنې ترسره کړي دي.په افغانستان کې دبشرد حقونود قربانيانواو سرغړونکود پوره انځور ويستلو له پاره دغه رپوټ يوه موضوع څېړلې ده هغه د دولت د مخالفينو دسرغړونو په اړه ده. ددغه رپوټ څېړنه په ټوليزه توګه باندې هغه سرغړونې دي چې په ۲۰۰۷ زکال او په ۲۰۰۸ ز کال کې تر سره شوي دي او هغه ټوله د ويرې اچونې او وژنو په اړه وي . دغه رپوټ ښکاره کوي چې څرنګه د دولت مخالفين په سيستماتيک ډول باندې په ليکلي او ژبني ګواښ باندې ملکي ټولنه ويروي . که چيرې دغه ګواښونو ته پام ونه شي نو هغه په بې رحمانه تاوتريخوالي باندې بدليږي .په هر حال د ويرونې د پای او تاوتريخوالي د پيل تر منځ کومه روښانه پوله نه ليدل کيږي . دتاوتريخوالي او ترور څخه د ډار اچونې وسيلې په توګه کار اخيستل کيږي .دغه رپوټ څرګندوي چې په عين وخت کې چې ملکي کسان د دولت مخالفينو د بريد ونو قرباني دي په همدې وخت کې د دولت د بېواکې (کمزورۍ )او يا هم د امنيت سره د دولت بې توجهي ملکي ولس نهيلي کړی دی او دوی ترې شکايت لري.

د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کمېسیون دا موضوع نه څیړي چې ولي د دولت مخالفینو او د افغانستان دولت ترمنځ او یاهم د دولت مخالفینواو نړیوالوپوځي ځواکونوترمنځ وسله والي نښتي رواني دي .خودا بیا د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کمېسیون واک دی چې په دغه نښتو کې د بشر د حقونو اونړیوالي بشر دوستانه قوانینوڅخه سرغړوني چې د مخالفوډلو له خوا کېږ ي هغه وڅیړي ،بې له دې چې دغه قضاوت وکړي چې په دې موضوع کې د دولت مخالفین ،که د دولت اویا هم نړیوال پوځي ځواکونه ملامت دي . په حقیقت کې ملکي کسان په ظاهره د پوځي بریدونوسره کومي اړیکي نه لري، ډېر ځله هغوی دا اندېښنه څرګنده کړي ده چې په جګړو کې اخته ډلو دوی د مخالفي ډلې سره په مرستو باندې متهم کړیدي او په دې توګه یې تر برید لاندې راوستلي دي، دوي په دې اړه څو ځله د افغانستان د بشر حقوقوخپلوا ک کمېسیون ته شکایت کړیدی.

طالبان په دې هڅو کې چې دولت کمزوری دی په سیستماتیک ډول دوي د ملکي کسانو په منځ کې ((شبنامې ))
خپروي په سړي تښتوني ( سرپریکولو) اونورو جرمونو باندې ویروي . هغوی برسیره پر پوځي هدفونو باندې ملکي هدفونه لکه ډاکټران ، ښوونکي زده کوونکي ،قومي مشران ،د پوهانو د شورا غړي د دولت ملکي کارکوونکي هغه لېږدونکي کارکوونکي چې د پروژو د بیا جوړولو له پاره کار کوي او همدې ډول هغه تقاعدي افسران چې د پوځ اوپولیسو سره یې کار کړي دي . دمثال په ډول څوځله لیدل شوي دي چې یوازي د دولت سره کار کول اوهم د دولت د کارمندانوسره دوستانه اړیکي لرل د هغو د نیوني له پاره کافي وو، اویا هم ځني چې د هغوی دوستان ددولت سره کار کوي ..(د ویروني نه تر وژلو پورې)دولت مخالفین د دولت د کمزوري کولو له پاره ښوونځي ،روغتیایي چارې ،بشري مرستې او سود اګریزې لیکې تر خپل هدف لاندې نیسې . د دولت مخالفینو د اوږده مهال پایلې )

دغه ډول بریدونه د دولت مخالفینو هغه ستراتیژي چې، غواړي ټولنه دې ته اړباسې تر څو ددولت او د نړیوالې ټولنې د موسسو او پوځونوسره مرستې ونه کړي . دولت مخالفین په دې عقیده دي چې د دولت او دهغوی دپلویانو ټول شیان که څه هم ډېروکوچني وي رواپوځي هدفونه دي ، نو ددولت سره د ښو اړیکو لرل هم ددې دلیل کېدای شي چې دغه کسان د هدف په توګه وټاکل شي .

دغه ډول سرغړوني نه یوازي د قربانیانو له پاره بلکې ټولې ملکي ټولني ته یې ستونزې پیداکړي .ددولت دکارکوونکو ښوونکو اوزده کوونکو باندې بریدونه ددې سبب شوي دي،چې دولت د سلو زرو افغانیو له پاره د خدمت توان له لاسه ورکړي .پر ښوونکو اوزده کوونکو باندې بریدونه ددې سبب ګرځیدلي دي چې د ماشومانو دښووني مخه ونیول شي . دروغتیایي خدماتو پر ضد کړني کول او یا په دغه اړونده څانګو کې ځان مرګي بریدونو کول ( لکه د خوست ولایت په روغتون کې ) ددې سـبب کېږي چې ټوله ټولنه د روغتیایي خدمتونو څخه محرومه کړل شي . دمرسته کوونکو موسسو کارکوونکي چې ولس ته د بشر دوستانه مرستو رسونکي دي چې د هیواد په ځینوسیمو کې مرستندویه موسسې نشي کولای خپلو مرستو ته دوام ورکړي. ددې پیښو یومثال هغه برید دی چې د۲۰۰۸ ز کال د اګست پر ۱۳ مه باندې د
IRCد موسسې څلور کآرکوونکي (چې په هغه کې درې بهرنی ښځې وي) چې د ګردیز نه کابل ته راتلل نو په لوګر کې د یوکمین سره مخامخ شول او ووژل شول.

هغه هیواد چې د فقر او اوبیکارۍ څخه رنځور شوی دی نود(( جاسوس)) او ((همکار)) په نوم باندې د هغوی وژل هیواد د ولس په منځ کې دومره وحشت راوړی دی چې ځینویې خپل کار ایله کړی دي او ځینو یې بیاخپل کور پریښی دی .کمیسیون ته په یوه حکایت کې ویل شوي دي چې یاغیانواته کسه ورځني مزدورکاران هغه وخت ووژل کله چې هغوي دیوه امریکایي پوځي هډې څخه د کار د پای ته رسول وروسته د اختر تیرولو له پاره خپلو کورونو ته روان وو. په ټولیزه ټوګه دولت مخالفین د ټولنې ډېربیوزله خلک چې د دولت او پرمختیایي پروژو سره کارونه کوي (نړیوالې پروژې) ویروي، تښتوي او بیایي وژني .دافغانستان د بشرحقوقو خپلواک کمیسیون په دې عقیده دی چې دغه ډول ملکي کار کوونکي تر څو چې په مستقیمه توګه په جګړه کې اخته نه وي نو هیڅوک حق نه لري چې د دښمن په توګه پر هغوي باندې بریدونه وکړي .نو دپورته دلیل پر بنسټ کله چې هغوی د خپل کار څخه رخصت وي او یا هم د خپل کار څخه د کورونو په لور ځي نو په مطلقه توګه دولت مخالفین دا حق نه لري چې هغوي ونیسي او ازار ورکړي.

دولت مخالفین د پوځي بریدونو په وخت کې د ملکي کسانو په اړه ډېر لږ پام کوي،څوکسانو چې د کمیسیون کارکوونکو د هغوی سره خبري کړي دي ویلي دي چې د دولت مخالفینو د توغندیو د توغولو له امله د هغوي کورونه وران شوي اوماشومان یې ټپیان یا وژل شوي دي او په همدې ډول په ځان مرګو بریدونو کې هم چې د ملکي کسانو په منځ کې شوي دي دوي د پوځي هدف د له منځه وړلو په خاطر په خپله په ملکي جامو کې وي دغه یو شیطاني اوله تذویر ه ډک تاکتیک دی او د جګړې هغه قانون چې ملکي کسان باید په امن کې وي

ترپېښولاندې کوي، دولت مخالفين د دښمنانو په جامو پر هغوی باندې په برید سره نړیوال معیارونه تر پښولاندې کوي .
دغه رپوټ ښکاره کوي چې د دولت مخالفينو سره بندي کسان وژل شوي دي.په داسې حال کې چې نړیوال قوانين د جګړې دغه اجازه نه ورکوي چې بندیان دې سارايي محاکمه کړي اویا هم شکنجه ورکړي.
د دولت مخالفينو په تاکتيک کې بدلون :
له پورته سرغړونو څخه ښکارې چې د ملکي کسانو د وژلو ډېرېدل د دولت مخالفينو د تاکتيک بدلون راښيي .
د ۲۰۰۱ ز کال په نومبر کې نړيوالو پوځي ځ؛ځواکونو طالبانو ته ماتې ورکړه خو په دې وروستيو کلونو کې د طالبانو ډلې د افغانستان اسلامي ګوند ،دحقاني ډله اود دولت نورو مخالفو ډلو بيا ځانونه سره منظم کړي دي تر څو بيا د دولت او نړیوالو ځواکونو پر خلاف بریدونه پیل کړي . که څه هم د ۲۰۰۱ ز کال څخه ډېر وخت تير شوی دی خود ۲۰۰۶ ز کال راهيسې د دولت مخالفينو په بريدونو کې ډېروالی راغلی دی د بشري حقونو څارونکي سازمان داسې ګمان کوي چې په همدغه کال کې زر کسه ملکي کسان وژل شوي دي ياد شوی سازمان ليکي چې د ( ځان مرګو بريدونو په ګډون) ۱۸۹ بمونه چاوديدلي دي چې په کې ۵۰۰ ملکي کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی .ډېزې،ترور او کمين هم د ۱۷۷ کسانو د وژلو سبب شوي دي .دبشري حقونو څارونکي سازمان د ۲۰۰۵ کال څخه بيا د ۲۰۰۶ کال په پرتله په ښوونځيو او نورو ځايونو کې د چاودنواو اور اچونوشمير د -۹۱-څخه تر-۱۹۰- پورې يعني دوه چنده راښيي .ځان مرګي بريدونه د۲۰۰۵ څخه د ۲۰۰۶ کال په پرتله لږ تر لږه بيا تر اوو ځلو پورې ډېر شوي دي[1]. په ۲۰۰۷ کال کې هم د شمېر د ډېريدو رقم په تدريجي توګه راښيي.
د افغانستان له پاره د ملګرو ملتونو مرستندويه ځانګه (يوناما)په ۲۰۰۷ زکال کې د وسله والو نښتو په ترڅ کې د-۱۵۰۰-ملکي کسانو څخه د ډېر شمېر مړينه تاييدوي . د ملګروملتونو د شمېرنو له مخې -۷۰۰- کسان د دولت د مخالفو ډلو له خوا-۶۲۹- کسه د دولت د دوستو ځواکونو له خوا اوپاتې نور يې د نورو لاملونو له امله مثلا په پولو کې د نښتو له امله او يا هم د ځمکني ماينونو د چاوديدلوله امله وژل شوي دي.
د ملګرو ملتونو د سازمان او د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کميسيون د شمېرنو له مخې په ۲۰۰۸ کال کې د ۲۰۰۷ کال د لومړی اتو مياشتو په پرتله په سلو کې ۲۰% ډېروالی راښيي . د سړکونو د غاړو ماينونه ،ځان مرګي بريدونه او د دولت مخالفينوله اعدامول د -۶۰۰- کسانو ژوند له منځه وړی دي.
دولت مخالفين له دولت څخه د ولس د ملاتړ د کمزوري په خاطر نوي لاري او تاکتيکونه زده کوي،هغوی هڅه کوي چې د ولس ملاتړ ځان ته راجلب کړي او هغه فعاليتونه چې د افغاني اونړیوالو پوځونو له خوا د دولت مخالفينو پر ضد کيږي تر سوال لاندې راولي . دطالبانوتاکتيکونه او کړنلارې په کرار –کرار سره د ودې په حال کې دي .
په افغانستان کې د ترهګرۍ پر ضد د نړيوالو د پوځي ځواکونو د بريد په پايله کې طالبان د هيواد نه ووتل خو وروسته کرار- کرار طالبان بيرته منظم شول او هيواد ته راستانه شول تر څو د خلکو په منځ کې ننوزي اوخپل شتون ځواکمن کړي . ددولت مخالفينو ډېره برخه په هغه ځايونو کې اوسيږي چېرته چې د دولت واک کمزوری دی او ولس د هغوی پر ضد حساسيت ونه ښيي . د دولت مخالفين ډېريدل له لاملونو څخه سرچېنه اخلي لکه د ټولني پر وړاندې د هغوی بي رحمانه کړني ،له دولت څخه د خلکونارضايي ،دامنيت نشتوالی او د هوايي بريدونو پروړاندې دخلکو غوسه ،د شپې له خوا د بې ګناه خلکو دکورونو تالاشي او د هغو نيول . څرنګه چې د دولت مخالفينو په پرتله نړيوال ځواکونه د ډېروواکونو لرونکي دي نو،ځکه دولت مخالفينو خپل تاکتيک بدل کړی دی.ځان مرګي بريدونه چې په ۲۰۰۵ زکال کې لږ وو، خو په اوسني وخت کې ډېر شوي دي دولت مخالفين چې د ټيلفون او سټلايټ څخه ډېره لږه ګټه اخلي نو په دې ډول دوی په هغه سيمو کې چې د شپې فعاليتونه لري د ټيلفون موسسو ته ګواښ کوي چې، ټيلفوني اړيکي بندې کړي اويا هم په خپله د ټيلفون مرکزونه په توغنديو ولي او په دې توګه د اړيکو د بندولو لامل ګرځي.د خوست په ولايت کې د پوليسو يو افسر د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کميسيون سره په خبرو اترو کې وويل چې د دولت مخالفو ډلو خپل تاکتيکونه بدل کړي دي ، د بيلګې په ډول هغوی په ۲۰۰۶ کال کې په خوست کې د ځانمرګو بريدونو څخه کار اخيستی په

[1] د بشرد حقونوڅارونکي سازمان ،د بشر ارزښت :په افغانستان کې د دولت مخالفينود بريدونو پايله ۲۰۰۷کال ۳-٤ مخ

داسې حال کې چې په ۲۰۰۷ کال کې دوی د سړکونوپه غاړو کې له لرې کنټرولیدونکو بمونو څخه کار اخیستی دی.[2]

طالبان د ودې او پرمختګ په حال کې دي، دغې ډلې خپلو قوماندانانو ته د لاربښونې پاڼې خپرې کړې دي چې، د ولس سره څه ډول چلند وکړي او کوم کسان په نښه کړي[3]. په ۲۰۰۸ کال کې یاغیانو د ټیلفون شرکتونو ته ګواښ وکړچې، د شپې له خوا دې ټیلفونونه بند کړي،خو دغو شرکتونو دا ګواښ جدي ونه ګاڼه چې بیا دولت مخالفینو د څلورو شرکتونو د ټیلفون ستنې ونړولې[4].او په همدې ډول دڅو رسنیزو موسسو په وسیله او multi media لکه ډي وي ډي اونور د دولت مخالفینو بد چلنداو د هغوی مرکې او نور معلومات خپروي.د ځیرې بدلون او دملي پوځ او د پولیسو له یونیفورمونو څخه ګټه اخیستل بل هغه تاکتیک دی چې مخ په ډېریدو دی په دې ډول پیښو کې دولت مخالفین په دوه ډوله موټرو کې چې د افغان ملي پولیسو په بڼه ښکاریدل دوو کسانو خپلې ځیرې بدلې کړي وي چې، یوېې ځان د پولیسو امر اوبل یې د نړیوال کارمند په ځیر ځان جوړ کړی وو د کندها ر ولایت د ملنګ کاریز په سیمه کې د پولیسو مرکز ته ورغلل اوشپاړس کسه پولیسان یې ونیول او بیایې ووژل[5].په هغه برید کې چې ۲۰۰۸ کال په جنورۍ کې د کابل ولایت په سرینا هوټل باندې وشو او په رسنیو کې یې غټ زوړ راپورته کړ په دغه برید کې ي دولت مخالفینو له پوځي یونیفورم نه کار اخیستی وو[6] د دولت مخالفینو چلند د هوا اوفصل له بدلیدو سره بدلیږي اود دولتي کارکوونکو په ځیرنو کې هغو ته اشاره شوي ده کله چې د پسرلې موسم راځي ورسره د دولت مخالفینوبریدونه ډېریږي خو د ژمي موسم په رانژدې کېدوسره بیا دا هر څه کمیږي هغه دولتي ماموران چې په ختیزو سهیل ختیزو او سهیلي سمیو کې دندې لري له کمیسیونه سره یې په مرکو کې ویلي دي چې د ژمې د فصل په راتګ سره د دولت مخالفینو په بریدونو شمېره کمیږي .

د بریدونو له پیل څخه هر کال د تیر کال په پرتله ډېر بریدونه کیږي[7] داچې د ژمي په موسم کې د دلت مخالفینو د بریدونو شمېرکمیږي د هغه لامل سړه هوا او ځانګړي توګه هغه سیمې چې غرونه لري او په واورو پوښلي وي د دولت مخالفینو له پاره دا ډېره ګرانه ده چې خپل تجهیزات او نور توکي ولیږدوي. له بله پلوه د ژمي موسم د ي دولت مخالفینو له پاره د استراحت وخت دی .په دغه موسم کې د دولت مخالفینو لاربښوونکې نوي جنګیالي روزي . په رپوټ کې راغلي چې په یاد شوي موسم کې دولت مخالفینو د روزني له پاره بیرته خپلو پنډ غالو ته ځي او یوازي لږ شمېر یې په پټنځایونو کې د ځینو بریدونو له پاره پاتي کیږي.

سیمه ییزو دولتي مسوولانو له کمیسیون سره په مرکو کې ویلي چې د ګاونډي هیواد په سیمه کې د بریدونو له کموالي سره زموږ په هیواد کې هم پربریدونو اغیزه کوي او کمیږي .په دې معانا چې د هیوا په ختیز کې له ګاونډي هیواد پاکستان سره ګډه پوله لرو د تګ راتګ او لیږدولو له پاره ډېري ستونزي شته او هلته هم د پاکستان د دولت او دولت مخالفینو ترمنځ وضعیت سم نه دی .دیادو شویو مسولانو له نظره په ۲۰۰۷ کال کې د دولت مخالفینو پر ضد جګړه له افغانستان څخه د وزیرستان سیمې ته ولیږدول شوه ، په دې وجه د ژمي په موسم کې د پولې دې غاړه ته د جګړې دسختي اوشدد په شمېر کې لږوالی راغلی ،خو کله چې د طالبانو او پاکستاني واکدارانو ترمنځ جوړ جاړي وشو نو، د ۲۰۰۸کال په نیمایي کې بیا د افغانستان او پاکستان په پولو کې په نښتو کې ډیروالی راغی.

د طالبانو جګړمار په نښتو کې د ډېرو بریدونو مسوول دي ،نه د ټولو بریدونو چې په دغه رپوټ کې راغلي دي. په بریدونو کې دطالبانوګډون په ټولیزه توګه د هغوی د ویندوی له خوا رسنیو ته په ټیلفون کې ویل کیږي چې، دوی ددغه برید مسوول دي.خو دځینو بریدونو خبر بیا د طالبانو له خوا د شپې پاڼو له لارې خپریږي . په ځینو

---

[2] په کندهار کې د ب.ح.خ په پټ نوم له یو پولیس سره دکمیسیون مرکه ۲۰۰۸کال دجنوري ۲۸مه.

[3] م.ب.signandsight.com

[4] Antonio Giustozzi,Koran,Kalashnikov,and laptop:the new-taliban insurgency in afghanistn

[5] د م.ح.ب په نوم له یودولتي کارمند سره د کمیسیون مرکه

[6] بریدکوونکود پولیسویونیفورم اوغوستیwww.msnbc.msn.com

[7] Antonio giustozzi- په افغانستان کې دنویو طالبانو خوزښت ۱۱۵ مخ قران-کلاشنکوف او لیپ ټاپ

نورو بریدونو کې طالبان د بریدونومسوولیت په خپله په ځان مني او یا یې ردوي داسې ګمان کېږي چې د ویرې او ډار له پاره طالبان د ځینو عادي جنایتونو څخه کار اخلي تر څو ټولنه وویروي.طالبان د یوې واحدې ادارې لرونکې نه دي ، د ګوندونو تر منځ یې کړکېچ موجود دی.حزب اسلامي چې د ۲۰۰۱ کال مخکې د طالبانو پرضد وو خو، د دولت او نړیوالو ځواکونو پرضد د ۲۰۰۲ کال په وروستیو کې د طالبانو مرستې ته ورغلل خو د۲۰۰٦ کال په اوږدو کې بیا سره جلا شول د طالبانو لوړ پوړو غړیو او د هغوی پلویانو او سیمه ییزې پوځې ډلې جوړې کړي دي.په هر حال طالبان تر اوسه د زور د یو ځواک په توګه پاتي شوي دي چې، د شمېر او فعالیتونو له مخې ډېر ګړندي دي. د طالبانوله خوا په خوزښتونو کې د هغوی لومړني لاربښوونکې بهرني جګړه ماران دي چې په دې کې لوی رول لوبوي ، دطالبانو ریښتنی شمېر څرګند نه دی. ډېرې څېړنې شوي خو د جګړو په ډګر کې د هغوی د لوی شمېر ګډون او مړینه ددې ښودنه کوي چې هغوی ډېر شمېر جګړه مار جلبوي.
حقوقي معیارونه :
هغه سرغړونې چې په دې رپوټ کې راغلي دي د ټولو اسلامي،کورنیو او نړیوالو قوانینو پر خلاف دي

.اسلامي قوانین د هغو کسانو امنیت ساتي کوم چې په نیغه توګه په جګړو کې برخه نه اخلي نو جګړه ماران باید په جګړو کې د پوځي او ملکې کسانو توپیر وکړي،هر مسلمان (جنګیالی) دوې دندې لري:
لمړی دا چې، د پوځي او ملکې کسانو توپیر وکړي اوتل پوځي کسان تر خپل هدف لاندې ونه نیسي . دویم دا چې د پوځي او غیر پوځي هدفونو تر منځ توپیر وکړي،هر مسلمان جنګیالی په هر ډول شرایطو کې باید جګړه مار دښمن د خپل هدف په توګه وټاکې.د حضرت محمد( ص)یوحدیث شریف پر دې موضوع داسې رڼا اچوي :
(( دیوې غزا وروسته حضرت محمد(ص) ولیدل چې ځینو خلکو ټولنه جوړه کړي ده حضرت محمد (ص) یوکس ولیږه چې د ټولنې لامل معلوم کړي هغه کس راستون شو او حضرت محمد (ص) ته یې وویل چې د ټولنې موضوع د یوې ښځې وژل وو .حضرت محمد (ص) وفرمایل ولې یې وژلې ده؟ په داسې حال کې چې هغه ښځه هیڅکله د جګړې په حالت کې نه وه![8]
د شیباني څخه هم د ملکې کسانود ملاتړ د نموني په ډول راغلي دي چې په جګړو کې دغسې کړني منع شوي دي .(( هرکله چې د خدای (ج) پیغمبر یو ه ډله او یا یو ګروپ جګړې ته لیږه نو، ددې تر څنګه چې هغوي مشرته به یې امر کاوه چې تل د خدای (ج) څخه ویره ولره فریب مه ورکوئ او خیانت مه کوئ. او دا حق هم نه لرئ چې د چا بدن څیري کړی اوماشومان مه وژنئ .فهذ اعهدالله سیره نبیه فیکم.ط.[9]
موږ یو بل مثال هم لرو چې د مکې د فتحې په وخت کې د اسلام په تاریخ کې پیښ شوي دي چې، هلته څنګه د ملکې کسانو د سرساتنې له پاره هڅه شوې ده. حضرت محمد(ص) اعلام وکړچې، ټول هغه کسان چې دمکې شریفې سالون ته ننوزي اویا هم د خپل مشرابوسفیان کورته ورشي،اویا هم خپل د کورونو دروازې وتړې اویا هم خپلې وسلې پرمځکه کېږدي د هغوی سر به ساتلی وي[10] له هغه ځایه چې د حضرت محمد(ص) احادیث د اسلامي قوانینو سرچېنې ګڼل کېږي ،و دپورته حدیث په قول د ملکې کسانو وژل د ځانګړي اهمیت لرونکې دي .
د افغانستان داخلي قوانین هم پوځي کسان په دې باندې مکلف ګڼې چې، د جګړې په وخت کې باید په هیڅ ډول جنایت باندې لاس پورې نه کړي .د پوځي جزا قانون په دې وروستیو کې تصویب شوی دی په هغه کې راغلي دي چې د خپل واک څخه د ناوړه ګټې اخیستلو سره بې له کوم لامله د یو چا د مړینې او ټپي کېدو لامل وګرځي هغه ته جزا ورکول کېږي . د دولت مخالفې ډلې چې د چا د وژلوسبب کېږي د قانون په حکم مجرم او دجزا وړ بلل کېږي.
نړیوال بشردوستانه قوانین په ټوله نړۍ کې منل شوي دي،او دغه منل ددې سبب شوي چې د هغه ډېرې برخې د نړیوال ټولیزو حقوقو په توګه قبول شوي دي.افغانستان د ډېروخت راهیسې ددغه قانون شته والی منلی دی چې هغه د ژنیو د کنفرانس په اوصولو ټینګار کوي[11]
د اسلامي کانفرانس سازمان په ۱۹۹۰ کال کې هغه وخت چې افغانستان د شوروي پوځ په واک کې وو او بیا د کورنۍ جګړو په وخت کې د نړیوال بشردوستانه قوانینود رعایتولو غوښتونکې شو[12] طالبان چې په خپله دغه قوانین تر پښو لاندې کوي څوځله یې د هغه په اړه خبري او بحثونه کړي دي .

---

[8]اثارالحرب ٤۷۲ مخ قستلاني ٥ جلد.
[9]ډاکټر سید مصطفی محقق داماد.نړیوال بشردوستانه حقونه،اسلامي لارپیژندنه ۳۲مخ
[10]ابن هشام سیره رسول الله ۸۱٤ مخ
[11] افغانستان د ژنیو کنوانسیون د ۱۹٥٦ کا ل د سپتامبر په میاشت کې لاسلیک کړی دی.
[12] پر بشري حقونوباندې څارونکې سازمان،د بشر ارزښت،په افغانستان کې د یاغیانو د بریدونو پایلې د۲۰۰۷ کال اپریل ۸۲ مخ

دطالبانو جګړه پوړي غړي تل هغه برید چي د امریکې په مشرئ په ۲۰۰۱ کال کي پر افغانستان وشو هغه د بشر د حقوقو د پښنو لاندې کولو له امله غندي.[١٣]
دجګړي نړیوال قوانین د ملکي کسانو وژل چي په قصدي ډول وي منع کړي دي .ملکي کس هغه چاته ویل کېږي چي په جګړو کي د ښکېلو خواوو غړیتوب نه لري .د جګړي قوانین تر هغو پوري د ددغه کسانو د ساتني ملاتړ کوي چي دوي په مستقیمه توګه په جګړو کي برخه وانخلي .که څه هم په جګړو کي په مستقیمه توګه برخه اخیستل نه دي تعریف شوي ولي داښکاره ده چي که ملکي کسان د جګړو په پروګرام جوړولو کي اویا هم د جګړو په پرمخ بیولو کي برخه وانخلي نو نشي کولای چي د جګړو د هدف په توګه وټاکل شي. خو د دولت مخالفینو دغه منطق چي هر څوک له دولت سره کار کوي اویا هم د دولت سره مرسته کوي نو د هغه په نښه کول روا بولي خو، د جګړو په نړیوالو قوانینو کي د هغه کسانو وژل منع دي کوم چي د ورځني مزد اخلي او مادي توکي له یو ځای څخه بل ځای ته لیږدوي او له پوځیانو سره د اجیرانو په ډول په کار ګمارل کېږي،هغه پوځي او پولیس چي تقاعدشوي وي د هغوي وژل هم منع شوي دي ؛ځکه چي هغوي وروسته له دې ملکي کسان ګڼل کېږي .
که څه هم په جګړو کي د هغو توکو په نښه کول رواه دي کوم چي د جګړو له پاره ودانی او سرکونه جوړوي خو په قصدي توګه د ډریورانو او هغه اجیرو کارګرانو وژل منع دي کوم چي، د دغه پروژو له پاره کار کوي.دا په دې مشهور حقوقي مثال سره روښانوو چي، په جګړو کي د پوځي کارخانو په نښه کول اوله منځه وړل روا ښکاري خو دهغه ملکي کسانو وژل منع دي کوم چي په دغه کارخانو کي په کار بوخت دي.
3_ کاري واک او میتودولوژي:
الف : د افغانستان د بشرحقوقو خپلواک کمیسیون واکونه :
د افغانستان اساسي قانون په ۲۰۰٤ کال کي تصویب شو او په افغانستان کي د بشر د حقونو رعایت او د ښه والي د راتګ واک په کي د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کمیسیون ته ورکول شو((هر څوک کولای شي چي د بشري حقونو د سرغړوني په وخت کي دغه کمیسیون ته شکایت وکړي . کمیسیون کولای شي چي د خلکو په اړه د بشري حقونو د سرغړوني موارد قانوني څانګو ته وسپاري او د هغوی د حقونو د دفاع په خاطر د هغو ی مرسته وکړي ))[١٤]
د ۲۰۰۵ کال د دندو اوتشکېل قانون او اساسي قانون د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کمیسیون ټولیزه مسوولیتونه ترتیبوي . د بشر د حقونو د سرغړونو د څارني برسیره د افغانستان دبشر حقوقو خپلواک کمیسیون د حقوقي اصلاحاتو پروګرام جوړولو،انتقالي عدالت د افغاني رسوم او عنعني سره دنړیوالو بشري حقونو هم غږي کولو کي ګډون او دافغانستان ولسمشرته په دې باب لارښوونه او مشوره ورکول چي، څرنګه د بشري حقونو دسر غړونواو نقض په صورت کي کړني وکړي، هم د کمیسیون واک دی[١٥] د طالبانو له پرځیدلو وروسته د لومړي ځل له پاره په ۲۰۰۱ کال کي د بن په کنفرانس کي د کمیسیون پرجوړول باندې خبري وشوي.د 3برخي د C فصل شپږ تشریح شوي معاهدې لري:منځمهاله اداره باید د ملګروملتونو په مرسته د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون جوړ کړي چي، د هغه دنده د بشر د حقونوڅارنه او د بشر د حقونو د سرغړونو څېړنه او د داسي داخلي ټولنو جوړول دي چي د بشري حقونو پراختیا غواړي.د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کمیسیون د ۲۰۰۲ کال په جون میاشت کي د ولسمشر په فرمان سره په رسمي توګه پرانستل شو.او دافغانستان د ۲۰۰٤ کال په اساسي قانون کي یې د افغانستان په دولت کي تل پاتي ځای ونیو[١٦] د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کمیسیون د پاریس د اصولو سره سم د بشر حقوقو دخپلوواکو کمیسیونونو ته ورته کړني کوي .
ب : میتودولوژي:
دغه رپوټ د دولت د مخالفوډلو پرهغه جنایتونوباندي لیکل شویدي کوم چي په ۲۰۰٦،۲۰۰۷او ۲۰۰۸ کلونوکي پیښ شوي دي. د مخالفو ډلو اصطلاح په دې رپوټ کي اصولا د طالبانو له پاره راغلي ده ،خو نورې ډلي هم د دولت د مخالفو ډلو په کتار کي راځي . د افغانستان د بش حقوقو خپلوا ک کمیسیون دنده لري چي،خپلواکي څېرني ،رپوټونه اوخپلواکي مدافعي کړني سرته ورسوي.دکمیسیون کړني پرمختلفو موضوعګانو باندې بي له دې چي نژاد ،رنګ،مذهب سیاسي اونوري عقیدې لکه ټولیزه یا ملي منشا ،دارایي او ځته (نسب) په نظر کي ونیسي پر مخ بیایي په تیرورپوټونوکي کمېسیون هغه سرغړوني څېرلي دي،کوم چي د بشر د حقونو

[١٣] پر بشري حقونوباندې څارونکې سازمان،د بشر ارزښت،په افغانستان کي د یاغیانو د بریدونو پایلې د۲۰۰۷ کال اپریل ۸۲ مخ
[١٤] د افغانستان اساسي قانون ٥۸ ماده.
[١٥] دافغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د تشکېل او د دندو واکونه د ۲۰۰٦ کال د مي ١٤
[١٦] د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت ولسمشرفرمان د د۲۰۰۲کال د جون میاشت.

په برخه کې د ملي پوځونو او نړیوالو ځواکونوپه وسیله شوي دي او کمېسیون په ښکاره توګه هغوی محکوم کړي دي د مثال په توګه د افغانستان د بشر حقوقو  خپلواک کمیسیون په خپل ټولیز رپوټ کې هغه څه غندلي دي

Insurgent Activities
Seasonal Trends 2007 / 2008




کوم چې د امریکایي پوځ له خوا د ۲۰۰۷ کال د مارچ پر څلورمه باندې یې د ننګرهار په ولایت کې بې توپیره د خپل واک څخهٔ ناوړه ګټه واخیسته او پرملکې کسانو یې تیري وکړ.

همدارنګه د افغان امنیتي ځواکونود ۲۰۰۷ کال دمي پر ۲۸ مه باندې د جوزجان ولایت د شبرغان په سیمه کې د لاریون کوونکو پر کتار باندې بریدکړی وکمېسیون دا کار هم غندلي دی.او یو بل رپوټ به هم ژر خپور شي چې په هغه کې نړیوالو پوځي ځواکونو د خلکو په کورونو چې ددوي هوایي ډګرونو ته نژدې پراته دي تیری او هوایي بریدونه کړي او پر ملکې خلکو تیری شوي دی.کمیسیون د کاریګرو ماشومانو ،په افغانستان کې د ښځو د ټولیزې وضعي په اړه او د اقتصادي اوټولیزې وضعې په اړه څېړنه او رپوټ برابر کړی دی.[17]

په شبرغان کې پرلاریونکونکود ډزې او دکارګرو ماشومانوپه اړه څېړنه او رپوټ او دافغنانستان د ښځو په اړه د ټولیزي وضعي،اقتصادي اوټولیزې وضعي رپوټ .

په دغو ټولو رپوټونو کې د افغانستان د بشر  حقوقو خپلواک کمیسیون خپل وړاندیزونه،د بشر حقونو ته درناوي اونړیوال بشر دوستانه قوانین راوړي دي .

د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کمیسیون  تل د دولت مخالفینو د سرغړونو رپوټونه اومعلوماتونه راټولوي ا و  هغه محکوموي.برسیره پردې د هیواد په سهیل ،سهیل ختیز او او ختیزسېمو کې کمیسیون یو ځانګړې څېړنه د څلورو اونیو له پاره تر سره کړي ده .

کمیسیون خپله سیمه ییزه  څېړنه د کندهار،خوست،پکتیا،کنړ او ننګرهار کې کړي ده. څېړندویانو د هغه خلکوسره هم مرکې کړي دي کوم چې د ارزګان ،زابل او هلمند ولایت څخه کندهار ته راغلي وو.کمیسیون د-۱۰۰- څخه ډېرې مرکې ثبت کړي دي چې هغه په کلیو ،ولسوالیو اوښارونو کې تر سره شوي دي چې،په دې ډول کمیسیون -۵۰- داسې قضیې لري چې د اندیښنې وړ دي . ددغو رپوټونو د تر لاسه کولو له پاره د معلوماتو اصلي سرچېنې په خپله قربانیان اوهم د سترګو لیدلي شاهدان دي .کمیسیون د قومونود مشرانو،د غیر دولتي موسسو اود سیمه ییزو،ملي او نړیوالو مسوولینو سره هم مرکې کړي دي . د رسنیو خبریالانو اونورو

[17] د افغانستان د ب.ح.خ.ک.څېړنه.دامریکایي پوځونو له په نامناسبه توګه له واک ؛څخه ګټه اخیستل ،له بي له توپیره د ملکې کسانوپه نښه کول.aihrc.org.af/investigation

سرچېنوهم دغه څه تائيد کړي دي او د نورو قضيورپوټونه يې هم ورکړي دي . د امنيتي ستونزو له امله د هغو کسانو نومونه دلته نه دې راوړل شوي کوم چې د کميسيون سره يې مرکې کړي دي .يوازې د هغو خلکو نومونه اخيستل شوي دي کوم چې په خپله يې دغه کار ته غاړه ايښې ده او دځان په اړه کومه بده پېښه نه وينې چې په راتلونکې کې به ورته پيښ شي.

کميسيون ددغه رپوټ د جوړولوپه بهير کې د ځو ستونزو سره مخامخ شو،په دغه رپوټ کې د ټول هيواد ټولې قضيې شاملې نه دي،ځکه د کميسيون ټينګار پر هغه سيموباندې وو چې په هغه ځايونو کې د دولت مخالفينو فعاليتونه ډېر وه او واک يې غښتلي وو. کمېسيون د نامناسبې هوا او امنيتي وضعيت په تحمل سره د هيواد په سهيلي ،سهيل ختيزو سيمو کې په سخت ژمي کې خپل فعاليت پر مخ بيولي دي او په دې سيمو کې د پرله پسې نا اراميو دوام په ځانګړي توګه لري سيموته تګ راتګ دستونزو سره مخ کړي دی خو بيا هم زموږ څېړونکو له ځو ولسواليو څخه ليدنه وکړه.

په دې رپوټ کې برسيره پر دي چې مرکه کوونکو وکولای شول څه معلومات سره راټول کړي ، نو دغه رپوټ د هغه ويرونکې فضا تر تاثير او اغيز و لاندې راغلي دی کوم چې مرکه شوي کسانو د دولت مخالفينو د ويرې څخه د خبرو اترو شوق له لاسه ورکړی وو.نو په پايله کې ويلی شو چې د سرغړونو ژور تاثير ددې سبب وګرځيدي چې په ډېروبرخو کې خلکوپه ښکاره سره د هغه ستونزو په اړه څه ونه ويل چې دوي ورسره مخامخ دي .نودا ددې مانا هم ورکوي چې دولت مخالفينوځيني داسې سرغړونې هم تر سره کړي دي چې عام ولس پرې نه دی خبر دغه څېړنيز رپوټ د ون وړلډ ريسرج په مرسته باندې جوړ شوي دي . دملګرو ملتونو د امنيت د شورا په تصويب سره د يونا ما ځانګې د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کميسيون سره لوژيستکې مرستې کړي دي.

3 _ له ويروني څخه تر وژلو پوري دملکي خلکو پر وړاندې د دولت مخالفينو سرغړونې:

د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کميسيون په پراخ او سيستماتيک ډول د ويروني قضې ،سړي تښتوني ، ډزي ، د سرپريکول،اعدامول، دبدن د غړو غوڅول اود هيواد په کچه د ځان وژونکو بريدونواو پر ملکې ولس د توغنديو ويشتل په ځانګړې توګه په سهيل،سهيل ختيزواو مرکزي سيمو کې د دووکلونوپه اوږدو کې شوي دې ثبت کړي دي د رسنيو اونوروسرچېنو رپوټونه دغه تاييدوي.

دولت مخالفين دا ادعا کوي چې په دغه جګړه ټول هغه کسان او نړيوال پلويان چې د افغانستان د دولت سره مرسته کوي موږ ته د روا اهدافو په توګه ښکارې ځکه هغوي زموږ د دښمنانو سره مرسته کوي . په پايله کې دولت مخالفين ملکې کسان لکه ډاکټران ،ښوونکې،د عالمانوشورا غړي،د سېمې مشران ، د دولت ملکې کارکوونکې،هغه اجير کارکوونکې چې دولتي توکې ليږدوي د پوليسو او اردو تقاعد شوي کسانو ته جزا ورکوي. او هغه کسان هم په نښه کوي کوم چې د هغوي دوستان د دولت سره کار کوي اويا هم د نړيوالو موسسو سره کارکوونکې دي . طالبان په دې برخه کې دومره پر مخ تللي چې د وژل شويو کسانو خپلوانو ته هم اجازه نه ورکوي چې د هغوي په ښخولو کې ګډون وکړي او په وژلو يې ويرولي دي .

په ډېرو قضيو کې تاوتريخوالی ساده لاره وهلي ده .ويرول او د هغه وروسته اعدامول اونورې سزاګاني . په هر حال دا چې ويروني د کومه ځايه پيل او په کوم ځای کې پای ته رسيږي ښکاره پوله نشته ،دولت مخالفين کله ناکله د وژلو څخه د ويروني په مطلب ګټه اخلي تر څو د قرباني کس تر څنګه ټولنه هم په ويره کې اچوي ليک د ښاغلي سيد حسين پر قبر باندې د خوست په ولايت کې ايښودل شوي نو په هغه کې د ويرې اچوني مضمون ليکلي وو. نوموړی دسيمې مخوروو او د دولت سره يې ښې اړيکې لرلي اوکله يې چې په جومات کې لمونځ کاوه ووژل شو هغه ليک چې د قبر پر سرېې ورته ايښې وو د اسلامي امارت د مجاهدينو له خوا لاسليک شوی وواو ليکلي يې وو.

(درنو هيوادوالو!

تاسو بايد وپوهيږئ!څنګه چې مو مخکې هم ستاسوغوږونو ته در رسولې وه تاسو پوهيږی بايد مخبري ونه کړئ.د مجاهدينو وسلې او ماينونه کفارو او د هغو نوکرانوته ونه ښيئ خوتر اوسه ځينو خلکو دا کار کاوه چې د هغو پايله همدا ده چې تاسو يې په سترګو ګوری.)[18]

الف : د ويروني پيل؛(شپې پاڼه )او ژبنی ګواښ

دولت مخالفين په ټوليزه توګه يو کس ته پيغام ليږي ترڅو له دولت اونړيوالو ځواکونو سره خپلې اړيکې پرې کړي دا دويرولو پيل دی. کله کله هغوی ټولې سېمې ته دګواښ پيغام ليږي . برسيره پردې ځينو کسانو ته د ګواښليکونه استوي چې د دولت سره خپلې اړيکې وشلوي او استعفا وکړي او هغه کسان چې د نړيوالوپوځونو

[18] د دولتي کارمندانوسره مرکه (پټ نوم) د ۲۰۰۸کال د جنوري ۲۹ د خوست ولايت

په هڅو کې کارونه کوي ژر ترژره خپل کارونه پريږدي.که هغوی د دولت د مخالفينو ګواښ ونه مني نو د وژلو ګواښ ورته کيږي .کمېسيون دغه شان ډېر ګواښونه چې د خوست ،پکتيا، پکتيکا، کندهار، زابل، کنړ،هلمند، اوننګرهار په ولايتونو شوي دي ليدلي دي.
ګواښونه په ټوليز ډول د شپې پاڼو په ډول پر دروازو نښلول کيږي ، په ځينووختونو کې دغه ګواښونه په جوماتونو کې پيدا شوي دي .اوپه دې ډول ددغه ګواښناک پيغام څخه د سيمې ټول اوسيدونکې خبريږي. دولت مخالفين کله -کله ځيني کسان تښتوي او د هغوي د ځورولو څخه وروسته هغوی ته دنده سپارې چې، بيرته کليو ته لاړ شي او د دولت مخالفينو پيغامونه هغو ته ورسوي .يوه بله طريقه چې هغوي ورنه ګټه اخلي هغه ټيلفوني اړيکې نيول دي .ژبنې ګواښونه که په مستقيمه توګه وي او که د ټيلفون په وسيله د شپې پاڼو په پرتله ترې لږ ګټه اخيستل کيږي خو، هدف ته د رسيدلو له پاره دا ډېره اغيزناکه وسيله ده او دپيغام اخيستونکې په ويره کې اچوي په يوه قضيه کې چې په ۲۰۰۷ کال کې پيښه شوي ده او دکمېسيون په وسيله څېړل شوي ده هغه د يوې دروازې الوزول وو چې، د ۲٤ کسانو د کورونو دروازې يې والوزولې. د طالبانو له نظره هغوی د دولت مرستندويان وو[۱۹] ياغيان کله نا کله د خپل لاس لاندې سېموکې د خلکو د سفر پرمهال سرخوږی جوړوي او هغوی هڅوي چې پاکستان ته د هغوی تر ادارې لاندې سيموته لاړشي .
دغه ډول ګواښونه ډېر ځله د پاکستان او افغانستان ګډو پولوته نژدې سيمو کې کيږي ، خو يوځل دغه څه د هلمند په ولايت کې هم تر سره شوي دي .
يوکس چې د زابل په لايت کې ژوند کوي د ۲۰۰۸ کال د فبرورۍ پر ۱۳ کميسيون ته داسې وويل (( د زابل په ولايت کې لږ تر لږه ټولو هغه کسانوته چې له دولت سره کار کوي اويا هم د دولت سره په اړيکو کې دي،شپې پاڼې استول شوي دي اوياهم په ټيلفون کې هغو ي ته ګواښونه شوي دي. ددې تر څنګ طالبانو يوه پاڼه د زابل په ټولو کليو کې خپره کړي ده او هغه د يو فرمان په توګه ليکل شوي وه او د هغه کې راغلي: هر څوک چې له دولت سره کار کوي د هغو وژنه روا ده ، ليکل شوي وو (( هر څوک چې د کفارو له دولت سره کار کوي حتا که د دولت پيغام وړونکې هم وواسې د وژلو مستحق بلل کيږي ، دغه پيغام خلک ويروي تر څو د هغو کسانو په فاتحه کې ګډون ونه کړی کوم چې په دولت کې کار کوي.[۲۰]
د خوست ولايت د يقوبي ولسوالي يو کس د يوې شپې پاڼې په اړه چې د هغه د کلي جومات ته نژدې اچول شوې وه داسې وايي(( شپې پاڼې څوځله ويشل شوي دي هر جمعه به چې زه لمانځه ته تلمه نو، د جومات په ديوال به د شپې پاڼې دغه مضمون ليکل شوی((هرهغه څوک چې د ځانمرګي بريد په اړه دولت اويا بل چاته خبر ورکړي نود وژلوسره به مخ کيږي .اوله دولت سره هيڅ ډول اړيکې مه نيسئ))[۲۱]
د ګرديز په ښار کې يو دولتي کارمند کميسيون ته وويل چې يو قومي مشر ته هغه وخت شپې پاڼه وليږل شوه چې هغه د يو پوليس د مړي د ليږدولو په کارکې د سيمې له پوليسو سره مرسته کړې وه،هغه کس د طالبانو له خوا ووژل شو.د خوست د ولايت څخه يو بل کس خپله ستونزه چې، څرنګه دولت مخالفينو د شپې پاڼې په واسطه د هغه په دنده کې ستونزې پيښې کړي دي نوموړي ځانته د ورپيښ ګواښ په اړه وويل چې څرنګه د پاکستان څخه د توکو له راوړلو څخه منع شوی وو.(( زه درې بار وړونکې موټران لرم د ۲۰۰۷ د مني څخه وړاندې مې له وزيرستان څخه افغانستان ته مالونه راوړل پنځه مياشتې تر مخه طالبانو د پولي په سيمه کې شپې پاڼې خپرې کړې وې او په هغه کې يې ځيني موټروانانو ته امرکړی ووچې، نور دې له وزيرستان څخه افغانستان ته مالونه نه راوړي زما خوره يې هم دغه پاڼه ليدلي وه. د هغه په وينا په دغه شپې پاڼو کې د ځينو موټروانانونومونه ليکلي وو چې دغه سړک يې د مالونو دليږدولو له پاره کاراوو، زما نوم هم په دغه نوملړ کې وو نو ځکه ما خپل موټران ودرول اوهغه ځای ته بيا لاړم نه . دا زما د عايد د لاسته راوړلو يوازينۍ لار وه.[۲۲]
کميسيون ته ډول-ډول شپې پاڼې وښودل شوې چې د نمونې په توګه يې دلته دوه راوړو:
د کنړ په ولايت کې شپې پاڼه د ۲۰۰۷ کال د اکتوبر ۹(۱۷ :۸٦.۰۷)
(لکه څنګه چې د افغانستان درانه اوسيدونکې خبر دي چې، يو پوځي بريد سرته رسيدلی دی او زموږ ملي غرور پرې توهين شوی دی. پاک خدای (ج)، رسول(ص) ، د پاک خدای کتاب (قران کريم)، ښځو ،عالمانو اوقومي مشرانو ته په کې سپکاوی شوی دی. نو ايا د روا نه ده چې په يرغلګرو باندې حملې وکړو؟.مجاهدين بيا هم

---

[۱۹] په خوست کې له يو ٤۲ کلن کس سره مرکه د ۲۰۰۸ کال جنوري.
[۲۰] په کندهار کې ديو٥۸ کلن کس سره مرکه د ۲۰۰۸ کال د فبرورۍ په ۱۳
[۲۱] په خوست کې له يو ٥۸ کلن کس سره مرکه د۲۰۰۸ کال د فبرورۍ په ٦
[۲۲] په خوست کې د يو ٤٥ کلن کس سره مرکه د ۲۰۰۸ کال د ۲فبرورۍ.

خبرتیا ورکوي : له دولت سره مرستي مه کوئ،مخبري مه کوی د ملي اردو او پولیسو لیکوته مه ځئ که اطاعت نشي............)
د افغانستان اسلامي امارت
(ښاغلي الف (پټ نوم )ته!
په تیرو اعلانونو کي هم خلکو ته ویل شوي وو چي، د لاسپو ځي دولت سره کار مه کوي او هم خپل اقارب مه پریږدئ چي له دولت سره کار وکړي .که تاسو ددغه امر اطاعت ونه کړئ نو تاسو د پوهانو د شورا د فرمان په اساس د ( طالبانو دعالمانو فرمان) د سزا وړ ګرځي . ن په دې اساس له تاسو څخه غوښتل کیږي تر څو د خپل کور د غړو د کار مخه ونیسئ. که ستاسو خور د کوم دفتر له پاره کار کوي نو دهغوی مخه ونیسئ . که داسي ونه کړئ ستاسو راتلونکي به هم لکه ستاسو د دوست ښاغلي (ج) چي د عالمانو د فرمان په امر په پلانی سیمه کي ورسره مخ شو.
ښاغلی الف :تاسوته موډېر وخت درکړاو دغه کافي ده تاسو او ښاغلی (ج) د ښځو سره اړیکي لری او شراب څکي خو تا د ښاغلي (ج) د وژلو څخه هیڅ عبرت وان خیسته . تاسو هغه کړني په تکرار سره کوی تاسو هره ورځ والي او امریکایانو ته ځی، موږ تاسو تعقیب کړي یاست او تاسو مخبري کوی .)
په ۲۰۰۸ کال کي د دولت مخالفینو د کندهار په ولایت کي د یوه قومي مشر سره د ټیلفون په وسیله اړیکي ونیولي او د هغه نه یي غوښتنه وکړه چي د طالبانو د جګړه مارو سره مرسته وکړي دغه قومي مشر چي پیغام اوریدلی وو کمیسیون ته داسي وویل : (( یو چا له پاکستان څخه ماته ټیلفون وکړ او وې ویل : موږ په هلمند کي خپله هڅه جوړه کړې ده اوډېر ژر به په کندهار کي هم خپله هڅه جوړه کړو نو موږ غواړو چي تاسو له موږ سره مرسته وکړی ما هغوی ته وویل چي زه یو زوړ سړی یم زه څه کولای شم ؟ موږ له تاڅخه یوازې د یو مشر په توګه مرسته غواړو تر دې زیات څه نه غواړو.
دغي اړیکي زه اندیښمن کړم ما هغو ته د نه ځواب ورکړی دی او زه په دې هم پوهیږم چي د طالبانو د ځواب ردول څه معنا لري.))[23]
د۲۰۰۷ کال په منځنیو وختونو کي طالبانو یو کور په داسي حال کي له ګواښ سره مخ کړ،هغوی له هغه پو ځي پسي خیرات کاوه چي د طالبانو له خوا د همدې کال په جولای کي کي وژل شوی وو . دغه پوځي ډېره موده مخکي خپله دنده پرایښي وه ددغه پوځي د کور یو غړی د پیښي کیسه دا رنګه کوي .
(( ښخولو وروسته چي کله موږ، له پوځي پسي دخیرات کولو په اړه خبري کولي د طالبانو یو وسله واله ډله زموږ[...] مخي ته ودریده [...] او ځانونه یي دې ته تیار کړل چي پر موږ باندې ډزې وکړي ،هغو په خپل منځ کي ویل [...] دغه کسان باید ووژنو ځکه چي دوی د وژل شوي پوځي د کور غړي دي. هغو ویل چي وژل شوي پوځي یو مسحي وو او له امریکا سره یي کار کاوه له ده پسي د خیرات کولو له مجلس څخه ډډه وکړئ.[24]
د زابل په ولایت کي د ۲۰۰۶ کال په اپریل کي طالبانو یوکس ته ټیلفون وکړ او دده څخه وغوښتل شول چي دد لوڼې باید نور ښونځي ته ولاړې نه شي هغه کمیسیون ته وویل :
(( د ۲۰۰٦ کال په اپریل کي یوه ټیلفوني اړیکه زما ټیلفون ته راغله،ټیلفون کوونکي زما سره داسي خبرې کولي چي ګوکي له ډېري مودې راهیسي ما پیژني ،ما سوال وکړ چي څوک خبري کوي ؟ هغه وویل زه تاسو سره په ټینګه خبري کوم او ستاسو څخه غواړم چي نور خپلي لوڼي ښوونځي ته مه پریږدی که نه تاسو به ددې غلطۍ له امله د ناوړې پایلي سره مخ شئ .طالبان به له تاسوسره په ټینګه عمل وکړي .)) له دغه ټیلفون څخه وروسته ما خپلي لوڼي د ښوونځي د تلو څخه منع کړي.[25]
که څېري دغه ګواښونه جدي ونه نیول شي نو دا کړني به د راتلونکي بدو پیښو له پاره یوپیلامه وي .د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی یو قومي مشرچي د شورا غړیتوب لري داسي واي (( چي د شورا دغه غړي لومړی یوه شپه پانه پیدا کړي وه او بیا ده ته ژبنی ګواښ هم شوی وو او په پای کي د ۲۰۰۷د کال په فبروری کي ووژل شو( د طالبانو له خوا) ویره اچونه په سزا باندې بدلولو باندې په یوې ورته پیښه کي چي کندهار کي پیښه شوې ده داسي عبارتونه راغلي دي :
د قومي شورا یو غړي شل ورځي له خپلووژلو څخه وړاندې د یو قومي له کوره د خپل کور په لور حرکت کاوه څلورو وسله والو د هغه مخه ونیوله او خپل ځانونه یي طالبان ور وپیژندل ا هغه ته یي ژبنی ګواښ وکړ هغوی له دغه قومي مشر نه پوښتنه کړې وه (( ته ولي د دولت له کاره لاس نه اخلي ؟)) ددغه قومي مشر په وینا چي

---

[23] د ۲۰۰۸ کال د فبروری ۱۳ مه په کندهار کي د یو ۵۵ کلن سړي سره مرکه .
[24] د ګردیز په ښار کي د یو ۲۷ کلن کس سره مرکه د ۲۰۰۸ کال د فبروری په ۲۵
[25] په کندهار کي له یو ۵۹ کلن کس سره مرکه د ۲۰۰۸ کال فبروري

له دغو ځلورو کسانو څخه يوه غوښتل چې دی مړ کړي خو هغو نورو دربو وويل دا بهتره ده چې ده ته يو څه نور وخت ورکړو ترڅو د حکومت له کاره ځان يو څه ګوښه کړي . دا دده د مشرتوب او سپين ږيري توب درناوی دی.وروسته د يوې شپې پانې په واسطه هغه ته ډېر کلک ګواښ شوي وو . يو سهار دغه قومي مشر د خپل زوي او ۱۵کلن وراره سره په موټر کې د ولسوالۍ د مرکز په لور په حرکت کې وو د طالبانو له خوا ووژل شو.طالبانو دده په موټر ډزې وکړي چې دی او زوی يې سخت ټپيان شول او روغتون ته پر لاره مړ شو.[26]
په ځينو نورو پيښو کې د ويرونې سطحه دومره چټکه نه ده .سړي تښتونه او ورانول معمولا دددې خبري ثبوت راښيي چې دولت مخالفين په جدي ډول خپل هدف ټاکي .
ب : تاوتريخوالی ډېريږي : له سړي تښتوني څخه تر ورانکاري
دولت مخالفين د دولت کارکونکې ، د دولت سيمه ييز ملکې مشران ،او د هغو کسانو د کور غړي چې له دولت سره کارکوي تښتوي او دغه تښتوني يو ګواښ ګڼل کيږي . کميسيون په ۲۰۰۸ کال کې ديو ډاکټر تښتونه ثبت کړي ده .هغه څوک چې بيرته خوشي کيږي هغوته دنده سپارل کيږي چې د هغو له ګواښه ډک پيغامونه خلکو ته ورسوي . په نورو دې ته ورته پيښو کې تښتول شوي کسان وژل شوي دي (م.ب وروستی جزا وي وژل ،د غړو پريکول ،کښته).[27]
يوبل کس چې د ۲۰۰۸ کال په لومړيو کې د طالبانو له خوا تښتول شوی وو او يوه ورځ وروسته را خوشې شوی وو کميسيون له هغه سره مرکه وکړه دغه کس چې يو پوځي افسر وو د قومي مشرانو په منځګړيتوب د يوې اندازه پيسو په بدل کې له دې ژمني سره چې نور به ددې ميرمن زده کړې له پاره ښوونځي ته نه ځي راخوشي شو. يوبل کس چې د کندهار په ښار کې يې له کميسيون سره مرکه کړې ده وايي چې د ۲۰۰۷ کال په سپټامبر کې د طالبانوله خوا وتښتول شو.دغه کس چې دنده يې د تعميراتي ډېرو ليږدول وو د خپل بند په دوره کې يې د طالبانو له خوا لس کسه نور تښتول شوي هم ليدلي وو. هغه په خپله مرکه کې کميسيون ته داسې وويل (( د سهار په نهو بجو د کور مخې ته ولاړ ووم چې په يو کرولا موټر کې څلور تنو سپاره وسله والو زما مخې ته موټر ودراوو [...] يو کس يې ماته وويل چې ته يې ولسوالۍ ته د يوې محکمې له پاره غوښتې يې [...] دوی زه په زوره دې ته اړ کړم چې موټرته وخيژم له يو دوه کيلو متره مزل څخه وروسته هغوی زما لاسونه او سترګې په لنګۍ اودسمال را وتړلې او بيا يې

موټر حرکت وکړ تقريبا د ماسپښين يوه بجه وه چې موټر يو ځای ودريد او هغوی زه يوې کوټې ته بوتلم او پښې يې هم را وتړلې ، زه ډېره يم چې دغه تښتونکې طالبان وو ځکه هغوی د خپلو دوو ملګرو په اړه چې طالبان ووزما څخه پوښتنې کولې او زه يې د هغو په وژنو تورن کړی ووم. وروسته له دو ه ساعته دريدو څخه يې له دغه ځايه په موټر کې بل ځای ته روان کړم درې ساعته لار ووهل شوه اوناڅرګند ځای ته يې بوتلم هغو راته ګواښ وکړ وې ويل (( موږ تا وژنو او يا دې وزيرستان ته بيايو او هلته به بندې يې . زموږ طالبان چېرته دي ؟تا هغوی وژلي دي)) سبا ورځ بيا دغه موټر حرکت وکړ او د ماسپښين په يوه بجه باندې بيا په يو نا معلوم ځای ودريد طالبانو زما لاسونه اوپښې بيا په يو څو ټوټو وتړل خو زما سترګې يې خلاصې پريښودې او په يوه کوټه کې واچولم او کوټه يې قلف کړه . په دې کوټه کې ۱٦ نور کسان هم بنديان وو دا ټول هغه کاريګران وو چې لښکر ګاه ته يې ډبرې ليږدولې ،وروسته مې واوريدل چې هغو دلوي اختر وروسته خوشې شوي وو. ما دطالبانو په زندان کې درې مياشتې تيرې کړې،زه فکر کوم چې زما د تښتولو علت د څارنوال په توګه زما د ورور کار کول وو . زه قومي مشرانو په منځګړيتوب پس له ډېرو خبرو اترو د هغوی له زندان څخه را خوشې شوم.[28]
د ۲۰۰۷ کال په جون کې ياغيانو د خوست په ولايت کې د پاکستان پولو ته نژدې د سيمه ييزو مشرانو ته په ګواښونو باندې په سيستماتيکو اعمالو لاس پورې کړ. په دغه يوه شپه کې څو درواز ته بمونه ايښودل شوي وو او چاوديدلي وو .کله چې له دولتي مسوولينوسره د کميسيون خبري وشوي هغو وويل په دغه شپه باندې[29] دروازو ته انفجار ورکول شو او دهغه علت همدا وو چې دغه خلک يا له دولت سره کار کوي اويا دولت ته وفاداره پاتې شوي دي ،د هغو کسانوچې دروازې يې الوزول شوي وې هغوي قومي مشران ،بزګران ،ښوونکې يو په کې تقاعد شوي ډګروال او يوهم د اربکېو غړی وو ( اربکېان هغه قومي وسله وال دي چې خپله سيمه

---

[26] په ګرديز کې له يو ۲۵ کلن ځوان سره مرکه د ۲۰۰۸ کال فبروری
[27] کميسيون نورې قضيې هم ثبت کړي دي چې د هغوي هدف يوازې پيسې او نور امتيازونه وو
[28] په کندهار کې د يوه ٦۸ کلن کس سره مرکه د ۲۰۰۸ کال د فبرورۍ ۱۲ مه.
[29] کميسيون د يو ۸۵ کلن کس قضيه هم ثبت کړي ده ،چې دکوردروازه يې د۲۰۰۷ کال کې په ورستيو کې الوزول شوي وه .

ساتي ) په ځينو پيښوکي د چاودنو تر څنګه هغوي شپې پاڼي هم خپرې کړي دي چې د خلکودلا ويرې او حشت لامل ګرځيدلي دي.[۳۰]
يوقومي مشر چې د کور دروازه يې الوزول شوي وه کميسيون ته د خپلو خاطرو په اړه وايي (( د شپې يوه بجه وه زه د خوب په ګوټه کې ويده پروت وم ،چې ديوې چاودني له امله را ويښ شوم بيانو له هرو لسو قيقو وروسته يوه بله چاودنه اوريدل کېده ،په همدغه شپه زموږ په کلي کې ۱۳ چاودني وشوې په لومړي سرکې ما فکر کاوه چې دا به نړيوال ځواکونه وي،ځکه چې دغه ځواکونه شپږ مياشتي مخکې د تالاشۍ له پاره زموږکلي ته راغلي وو هغه وخت چې چاودني پای ته ورسيدي زه راووتم چې وګورم زما ګاونډيانو ته څه پيښ شوي دي اوکه نه ؟ کله چې راووتم په شاوخوا مې څوک ونه ليدل ،وروسته زما ګاونډيان هم له خپلوکورونو څخه راووتل ماوپوښتل چې په کورونوکې خوبه يې څوک ټپيان شوي نه وي؟ هغووويل چې زموږ دروازه هم ستاسو په شان الوزول شوي ده چې نيکه مرغه چاته زيان نه دی رسيدلی)).[۳۱]

ج : سختي سزا ګاني : وژل،د بدن د غړيو پريکول،وهل او ټپي کول
ياغيان په قصدي ډول د دولت ملکي کارکوونکي د عالمانو شورا غړي او سيمه ييز مشران اونور وژني او د تل له پاره يې له خپلو کورنو څخه جلا کوي . کميسيون نورې قضيې هم ثبت کړي چې، بې ګناه کسان په کې وژل شوي دي او په هغو يې ډزې کړي دي د هغو سرونه يې پرېکړي دي اويايې اعدام کړي دي کله ـکله د بند په دوران کي د هغو د وجود غړي پرې کړل شوي دي اويا هم له لرې څخه د کنټروليدونکي ماينونو او يا د ځان مرګو بريدونو په واسطه ددوی د وجود غړي پرې شوي دي . دا لا نه ده معلومه چې د اکسان ددې له پاره وژل شوي چې د دولت مخالفينو ګواښونو ته يې پام نه ووکړ ي او که په دې خاطر چې په نورو خلکو کې ويره خپره کړي او دا يو پيغام وبلل شي .په ډېرو پيښو کې د دولت مخالفينو منظور دغه دواړه هدفه دي په هر حال پايله يې په دواړو حالاتو کې يوشی ده هغه څوک چې ځان له لاسه ورکوي ،نور خلک په ويره کې اچوي که له دولت مخالفينو سر مرسته ونه کړي دغه شان حال به يې وي.
د دولت مخالفينو هدف هغه کسان دي چې د نړيوالو بشردوستانه قوانين د هغوي ملاتړ کوي.کله چې دغه قوانين د دولت مخالفينو په ګټه وي،هغه په خپله ګټه کاروي خو په خپلو بريدونو کې بيا هغو ته پام نه کوي ا و هغه وخت لويديزيوه ايډيا (نظر) بولي . له دغه دوه مخه تاکتيک نه له کار اخيستلو برسيره دولت مخالفين واقعيت په نظرکې نه نيسي چې ملکي کسانو د ساتنې ملاتړ په بشر دوستانه نړيوالو قوانينو کې په نظر کې نيول شوي دي او اسلامي قوانين هم د ملکي کسانو د ساتنې ملاتړ کوي( .ا.ب حقوقي معيارونه ،پورته )
1- پر ملکي کسانو باندې ډزې کول:
د طالبانو لارښود ملا محمد عمر د ۲۰۰۸ کال د فبروری په مياشت کې د يوه فرمان په خپرولو سره د طالبانو له خوا د هغو کسانو حلالول چې په جاسوسی باندې تورن شوي وغندل. هغه دا هم وويل چې دارنګه وژنو له امله زه خواشينی يم .يوازې اسلامي محکمه کولای شي ددغو کسانو د اعدام حکم صادر کړي.[۳۲]
په ځينو سيمو کې چې د طالبانو تر واک لاندې دي کميسيون يوازې د هغه ۱٦ کسانو چې پوليس وو دمحکمې خبر ثبت کړی دی دغه ۱٦ پوليسان لومړی د طالبانوله خوا د جګړې د بنديانو په شکل نيول کېږي اوبيا د هغوی د قاضيانو له خوا د اعدام په حکم باندې وژل کېږي.[۳۳]
په ډېرو برخوکې داګرانه ده چې ثبوت کړو چې دا خلک قضا ته بيول شوي وو اوکه نه ؟ خو په ډېرو پيښوکې ليدل شوي دي چې دغه کار سرته نه دی رسيدلی .د فغانستان قوانين په دواړو حالاتو کې اجازه نه ورکوي چې ياطالبان اويا بله دولت مخالفه ډله د اعدام حکم صادرکړي د دافغانستان اساسي قانون حکم کوي چې ټوله د اعدام حکمونه بايد د افغانستان ولسمشر لاسليک کړي.[۳٤]
لاندې د هغه ۲۲کلن ځوان کېسه راوړو چې (د) نوميده د طالبانو له خوا په ۲۰۰۷ کال د نومبر کې په دې ګناه چې هغه د انګليسي او کمپيوټر زده کړه ورکوله د پکتيا په ولايت کې ووژل شو.ښوونکي ،زده کوونکي تل د

---

[۳۰] په خوست کې له يو ٤۰ کلن کس سره مرکه د ۲۰۰۸ کال د جنوري ۲۹
[۳۱] په خوست کې د يو ٤۰ کلن کس ره مرکه د ۲۰۰۸ کال د جنوري ۲۹
[۳۲] سرچينه dialynews.com2008/02/04
[۳۳] په کندهار کې له يوکس سره دکميسيون مرکه
[۳٤] دفغانستان اساسي قانون ۱۲۹ ماده

دولت مخالفینو له خوا په نښه کېږي چې دا دقوانینو په خلاف عمل دی[۳۵] د طالبانو په یو کتاب کې په ښکاره توګه توګه راغلي دي (( هر هغه څوک چې د لاسپوسي دولت سره د ښوونکې په توګه کار کوي هغوی باید وه ویرول شي.که دغه کس خپله دنده پرې نږدې باید وهل او ټکول دې ورکول شي.او که دغه کس بیا هم داسلامي اصولو پرخلاف خپلې دندې ته ادامه ورکړه نو باید د ولسوالۍ د قوماندان او یا هم د سیمې د لارښود له خوا ووژل شي ښاغلي (ډ) په سپینه ورځ د خپلو همکارانو او زده کونکو په مخ کې ووژل شول د نکل په دې ډول کمیسیون ته بیان شو.

((د)) اوځیني نور ښوونکې د ښوونځي په اداري ځانګه کې ناست وو ،د سهار ۱۱ بجې وې چې پنځه کسه په یوه موټر کې د کلاشنکوفونو سره سمبال د ښوونځي دروازې ته راورسیدل. ددغو وسله والو سپینې خولۍ پر سر وې او مخونه یې په ښکاره معلومیدل .هغوی خپل موټر ودراو درې تنه یې له موټر نه را ښکته شول او ښوونځي کې مخامخ اداري ته راغلل اود ښوونکو دنومونو پوښتنه یې پیل کړه، هغه وخت چې ښاغلی ((د)) خپل نوم ورته ووایه وسله والو ورته امروکړ له دوی پسې دې راشي هغوی هم ښاغلی ((د)) د ښوونځي انګړ ته بوتلو چېرته چې زده کوونکې د ازموینې د ورکولو په حالت کې وو دلته وسلوالو کسانو د هغه جیبونه تالاشي کړل یو موبایل ټیلفون او څو پاکستانۍ کلدارې یې د هغه له جیب نه را وویستې ،یو له دغو وسلوالو کسانو څخه په هغه اته مرمۍ واورولي او سم دلاسه مړشو.

[...] د ماسپښین پر دوه بجو پولیسو د یوکلي د یوه کور په مخ کې یو موټر پیدا کړ،موټر د ترپال لاندې ووپولیس کورته ننوتل ،خو قاتلین یې پیدا نه کړل دوه ښځې په دغه کورکې وې،هغه وخت چې پولیسو کور تالاشي کاوه ،د هغه غره څخه چې کور ته نژدې وو پر دوی ډزې وکړې او دوه پولیسان ووژل شول. له وژونکو څخه هم دوه کسان ووژل شول اونور یې وتښتیدل ،خو دوژل شوي ښوونکې موبایل د دغه وژل شویو قاتلانو د یوه له جیب څخه راووت . دغو دواړو وژل شویو قاتلانو د طالبانو یو قوماندان ته کار کاوه ،وروسته ددغې پیښې مسوولیت طالبانو په خپله غاړه واخیست وې ویل چې دوی د دولت یو مخبر اویو د انګریزې ژبې او کمپیوټر ښوونکې وژلی دی.[۳۶]

د (( م)) په نوم یو بل ښوونکې د ۲۰۰۷ کال په اپریل کې د خوست په ولایت کې ووژل شو.دغه کس چې خپلو خلکوته کار کاوه او په سیمه کې یې ډېر شهرت پیدا کړی وو ،د۲۰۰۷ په اپریل کې د مازیګر په پنځه بجو ښاغلی ((م)) له خپل یوملګري (( تقاعدي پوځي افسر)) سره په یوه کرونده کې ناست وو او هغه کاریګرو ته یې کتل چې څاه یې کېندله دوه کسه په موټر سایکل سپاره ددوی خواته راغلل هغوی خپل مخونه پټ کړي وو هغوی پر ښاغلي ((م)) او پرملګري یې اور بل کړ ښاغلی ((م)) سم دستي مړ شو او ملګریي ټپي شو.

موږ پو هیږو چې هغه د طالبانو له خوا ووژل شو،هغه له چا سره شخصي دښمني نه درلوده او په سیمه کې یو پیژندل شوی کس وو او دولسوالۍ د خلکو په منځ کې ښه نوم درلود،د طالبانو دغه شان کسان نه خوښیږي.[۳۷]

ددغه رپوټ په جوړولو کې کمیسیون د یاغیانو ډېرې قضیې ثبت کړي دي چې،څرنګه د کندهار ،پکتیا اوخوست په ولایتونو کې دولت مخالفینو د عالمانو شورا پر غړوباندې بریدونه کړي دي .دغه پیښې د ۲۰۰٤ کال څخه تر ۲۰۰۸ کال پورې پیښې شوې دي .په دوو قضیو کې دولت مخالفینو د عالمانو شورا غړي ترور کړي دي او په یو بله پیښه کې یې او په یوه بله پیښه کې د عالمانو د شورا غړی له خپل زوی سره یوځای ترور شوي دی( م،ب شپې پاڼه او د ژبې ګوښنه –پورته )

په نورو قضیو کې هغوته شپې پاڼې غورځول شوې وې او ورته ګواښ شوی وو،چې له دولت سره خپله همکاري بنده کړي .مرحوم مولوي فیاض دکندهار د عالمانو د شورا مشرپه ۲۰۰٤ کال په داسې حال کې ووژل شوچې هغه په خپل دفتر کې ځیني سندونه لاسلیکول .وروسته بیا یو ځان وژونکې دیاد شوي مولوي د فاتحې په مراسمو کې ځان والوزاوو او ډېر کسان یې مړه کړل.[۳۸]

د عالمانود شورا هغه ټولنه چې له اقتصادي پلوه پر دولت تکیه لري ،اومعمولا د دولت د مرستندویانو په نوم پیژندل شوي دي او ددولت دغوښتنې په وخت کې هغوی ته مشورې ورکوي د د عالمانو شورا دیو غړي په

---

[۳۵] د عفوي نړیوال سازمان- ټول هغه کسان چې زموږ سره نه دې ،زموږ دښمنان دي،دملکې کسانوپرد د طالبانو سرغړوني اپریل ۲۰۰۷ –د ۱۷ څخه تر ۲۲ مخونه

[۳۶] په ګردیز کې له یو ٥۳ کلن کس سره مرکه د ۲۰۰۸ کال فبروري .

[۳۷] په ګردیز کې دیو ٤٥ کلن کس سره مرکه د ۲۰۰۸ جنوري

[۳۸] په ګردیز کې دیوه ٥۳ کلن کس سره مرکه د ۲۰۰۸ فبروري

وینا(( د دولت مخالف عناصر هڅه کوي چې د عالمانوشورا غړي وويروي اوپايي ترور کړي ترڅو په دې ډول عام ولس په ويره او ډار کې واچوي ،چې له دولت سره مرسته ونه کړي.))[39]
ښاغلي مولوي محمد انور هم د وژل کېدو په وخت کې د خوست د عالمانو شورا مشري په غاړه درلوده او د۲۰۰۷ کال په اوړي کې د پنکزيي په سيمه کې د خوست ښارته نژدې ووژل شو.
ښاغلی مولوي محمد انور د خپل زوی سره د خوست له ښاره خپل کورته روان وو .د ماسپښين د درې بجو په شاوخوا کې يوه سپينه کرولا ددوی تر موټر مخکې شوه او ګرنديتوب يې کم کړل او څلور وسله وال له موټره راښکته شول او پر دوی يې اور بل کړ مولوي مړشو او زوی يې ټپي شو بريد کوونکي وتښتيدل د هغو هدف دا وو چې دا دواړه مړه کړي او قاري يوسف احمدي وويل چې دواړه کسه ددوی وسله والو وژلي دي (د طالبانو ويندوی).[40]
دولت مخالفينو د ۲۰۰۷ کال په اکتوبر کې يو اته کسيز ګروپ وواژه ، وژل شويو کسانو ټول په کنړ ولايت کې ميشته امريکايي پوځي هډه کې کار کاوه. دغه کارګر د کوچني اختر نه دوه ورځې وړاندې د رخصتيو له پاره خپلو کورونو ته روان وو . دولت مخالفينو تر دې پيښې وړاندې په کنړ کې د شپې پاڼو له لارې د دغه ځای اوسيدونکوته ګوښ کړی وو چې له نړيوالو ځواکونو سره دې په پوځي هډوکې کار نه کوي ددغه کار ګرانو يوخپلوان د پورته پيښې په اړه کميسيون ته وويل : د روژې له تيريدو دوې ورځې ترمخکې کله چې دغه کارګران د پوځي هډو څخه د کار د پای ته رسيدو وروسته خپلو کورونو ته روان وو د طالبانو له خوا ووژل شول بله ورځ راډيو دا خبر خپور کړچې دغه کارګران د طالبانو له خوا ووژل شول او موږ خبر شو.[41]
د ((ز)) په نوم يو بل کس په تير وخت کې د پکتيا ولايت د قومي مليشې په توګه په منځ مهاله دوره کې دنده تر سره کړې وو. پورته کس د ۲۰۰۷ کال په جولای کې د زرمت په ولسوالی کې د دولت مخالفينو له خوا ووژل شوددغه کس يو خپلوان وايي (( شپږو وسله وال طالبان په يوه کرولا کې سپاره وو دده د کور مخې ته يې موټر ودراوو هغوی چې مخونه يې پټ کړي وو د موټر نه را کښته شول او په دې هڅه کې شول چې ښاغلی ((ز)) موټر ته وخيژوي،هغه مقاومت وکړ او دوی هم پر هغه باندې د مرميو ډزې وکړې او هغه يې وواژه ، د هغه لور د طالبانو خواته منډه کړه اوهغوی ته يې چغه کړه چې زما پلار مو مړ کړ ما هم مړه کړئ.[42]
۲_ اعدامول،دسر غوڅه ول او دبدن دغړو پريکول
برسيره پردې چې دولت مخالفين پر ملکي کسانو لکه پورته چې مو وليکل په ډېر وحشت سره بريدونه کوي د هغوی د بدن غړي پرې کوي،سر يې له تنې جلا کوي او هغه کسان چې د افغانستان د دولت يا هم د نړيوالو موسسو سره کارونه کوي هغوي اعداموي، له تنې څخه د سر جلا کول يو ډېرو وحشي تاکتيکونو څخه دي چې د طالبان يې د خپلو مخالفانو پر ضد کاروي د سر پريکول د بربريت او وحشت نښه ده او دا د انسان د وجود په وړاندې بې اخلاقي کول دي چې د هغه پايله په خلکو کې د ويرې خپرول دي. ددوی يو بل هدف هغه کارګران دي چې په ملکي برخو کې لکه ډېريوران ،ساختماني کارګران او يا په نوروبرخو کې د پوځي اونړيوالو ملکي اوپوځي موسسوسره کار ونه کوي .په ځينو سيموکي لکه هلمند او ارزګان چې هلته د دولت مخالفين ډېر دي هلته د حلال شويو او اعدام شويوکسانو بدنونه د ننداري له پاره ايښودل شوي دي .حتا د دولت تر لاس لاندې سيمو کې هم داسې پيښې کيږي چې ملکي کسان د دولت مخالفينو د کمين سره مخامخ وي او په دې سيمو کې د مړه شوو کسانو سرونه د وجود څخه پريکول اوپايي حلالوي او د وجود غړي يې پريکوي.د اسلامي قوانينو له مخې د جګړې په سيمه کې د اسلام ساتونکي پوځيان د دښمن په اړه او د هغوی د مالونوپه اړه ددغو څخه منع شوي دي .
۱_ په وحشي ډول باندې او يا هم په چل باندې وژل حضرت محمد (ص) په در اړه فرمايلي دي (( پاک خدای په هره برخه کې توصيه فرمايلي ده ،چې ترحم وکړئ ط نو که چېرې د يو چا وژل ضروري وي هغه په منصفانه ډول ووژني .
۲_ په جګړه کې د ملکي کسانو وژل ( کوم چې په جګړه کې برخه نه اخلي )
۳_ د جګړې له بنديانو څخه د سر پريکول .
٤_ د انسانانو او حيواناتو د بدن د غړو پريکول.[43]

---

[39] په خوست کې د يوه ٤٥ کلن کس سره مرکه د ۲۰۰۸ کال جنوري.
[40] په کندهار کې ديو۳۸ کلن کس سره مرکه د۲۰۰۸ کال فبروري
[41] په کندهار کې ديو ٦۰ کلن کس سره مرکه د ۲۰۰۸ کال فبروري ۱۲
[42] په خوست کې د يو ملکي کس سره مرکه د ۲۰۰۸ کال جنوري
[43] په کنړ کې د يو کس سره مرکه د ۲۰۰۸ کال فبروري.

٦_ د وژلو په قصدباندې دانسان یا حیوان سوځول.
دولت مخالفین پرته له محکمې وژنې ددې له پاره کوي چې خلکو ته ګواښ وکړي چې هر هغه څوک چې د دولت سره کار کوي د هغه پایله به دغه شان وي.د جګړې د قوانینو هغه ملاتړ چې ملکې کسانوته متوجه شوي دي،هغه ملکي کسان چې په دولت کې کار کوي د هغه نه بې برخې دي . په هر حال د جګړې قوانین د یوتولیز اصل په توګه نه بدلیدونکې دی او په هغه کې راغلي دي چې که یو کس د دښمن تر کنټرول لاندې وي ،که دی ملکې وي اوکه پوځي د وژلو حق پرې نه لری. ددې اصل مانا دا ده چې که چېري یو څوک د مقابل لوري تر کنټرول لاندې وي نو هغه کس بیا دوی ته خطر نه شي پیښولای ،نو بیا هیڅ دلیل نشته چې دغه بې خطره کس دې ووژل شي.
له محکمې پرته د جګړې د بندي وژل د اسلام د قوانینو خلاف کار دی،د سرخسي په وینا ( ( حتا یو قوماندان دا حق نه لري چې د جګړې بندي ووژني ،دا صلاحیت یوازې د یو هیواد د ولسمشر دي چې پریکړه وکړي چې د جګړي بندیان د ي ووژل شي.[44]
که څه هم د وجود د غړو پریکول او جګړې د بندي کس وژل په کلکه منع شوي دي خو بیا هم داسې قضیيې ثبت شوي دي چې طالبانو په ۲۰۰۸ کال کې کله چې د ملي اردو یو پوځي چې،نوي یې دنده پیل کړې وه د طالبانو له خوا تر نیول کېدلو وروسته د هغه سر پرې شو.
د((س)) چې تازه د ملي پوځ لیکو ته داخل شوی وو، د ولسوالۍ د مسوول له خوا څخه د یوه سړک د ساتنې له پاره (چې نوی جوړیده) خیریرو په سیمه کې په دنده ګمارل شوی وو. په دغه بله ورځ د بي بي سي را ډیو رپوټ ورکړ چې دغه پوځي او د هغه د تره زوی (ت)) د نورو دوو پو ځیانو سره یو ځای هغه وخت د طالبانو له خوا وتښتول شول کله چې هغوی خپلو دندو ته روان وو. یوه میاشت وروسته راډیو دا خبر خپور کړ چې پورته څلور پوځیان حلال کړل شوي دي او د هغوی جسدونه د ګردیشن پله یه سیمه کې غورځول شوي دي.[45]
داسې قضیيې هم ثبت شوي دي چې ځینې داسې کسان حلال کړل شوي دي چې قربانیانو د دولت اویا د نړیوالي ټولنې سره ډېره لیري اړیکې لرلی ، په لاندې قضیه کې تاسو ګوری چې څلور ورونه د ارزګان په ولایت کې حلال کړي شوي دي او بیا د هغو د وجود غړي تري پریکړ شوي دي ، دغه ورونه د ۲۰۰۷ کال د دسامبر په میاشت کې د طالبانو له خوا ووژل شوي وو. یوکس ددغو وژل شویو کسانوپه اړه داسې بیان وکړ: ج چې ۱۹ کلن وو او ورځنی کاریګروو ک ۲۵ کلن وو اوهغه هم ورځنی اجیر کاریګروو او د هغوی مشروورو ۵۰ کلن وو او په تیر وخت کې ئې پوځي دنده لرله او یو بل ځوان ورور ئې هم تر مخه دپوځي دنده لرله نوم ئې م وو او د وژلو په وخت کی ئې بزګری کوله. ددغو څخه درو ورونو ودونه لرل او د او لادونو لرونکي وه.[46]
(( د ۲۰۰۷ ز کال په دسامبرمیاشت کې طالبانو د ارزګان ولایت دهراوود په ولسوالۍ کې چې په یوه کلي باندې پرغل وکړ او دوو ورونو ته یې امر وکړ چې کلي دې پریږدي خو کله چې هغوی بل کلي ته ورسیدل د طالبانو له خوا ونیول شول او خپل کلي ته راستانه کړل شول او بیا د هغوی دوه ورونه چې د هلمند په ولایت کې اوسیدل هم دلته راوستل شول،طالبانو هغه وخت کې ونیول چې یوه یې د خپل کور پر بام باندې کار کاوه او بل یې مځکې اوبه کولې. کله چې دولت مخالفینودغه څلور ورونه د کورنیو څخه راجلا کړل په سبا یې دوی بیرته خپل کورته راستانه شول او د کور پاتې غړو ته یې امر وکړ چې د کلي نه دي په یوه ساعت کې ووزي . د کور دغو غړو یو موټر کرایه کړ او دکلي نه بهر ولاړل کله چې هغوی بهر روان وو نو په لاره کې د خپلو پلرونو او زامنو د پریکړو بدنونو سره مخامخ شول او هلته یوه ډله طالبان هم ولاړ وو د مړو په وجود باندې د شکنجو علامې هم لیدل کېدې کمیسیون ته وویل شول چې د ټولو لاسونه تر شا تړل شوي وو د ((م)) نس په چاکو څیرې شوي وواو د ((ل)) نوکان هم ترې ایستل شوي وو. ددغو مړو یو خپلوان غوښتل چې له موټره ښکته شي تر څو خپل مړي د ځانه سره یوسې خو هلته یو طالب د کلاشنکوف سره ده ته ګواښ وکړ چې که راښکته شوي نو د دوی په شان به ووژل شي.
له طالبانو څخه غوښتنه وشوه چې که د هغوی مورته اجازه ورکړي چې د ښخولو له پاره د هغوی مړي راټول کړي خو هغې ته هم اجازه ورنه کړل شوه او د هغود مور په وینا چې یوازې دومره اجازه یې ورکړه چې د خپلو څلورو زامنو مړي وګوري او پرې وژاړي. مړي هلته پاتې شول او کورنیو حرکت وکړ ددغه کورنیو په وینا چې دوی به بیا بیرته دغه ځای ته راستانه نه شي ځکه چې دغه سیمه ددوی له پاره د دوزخ په شان ده له دې پیښې

---

[44] په ګردیز کې له یوکس سره دکمیسیون مرکه د ۲۰۰۸ کال په فبرورۍ کې.

[45] د اسلامي دولت نړیوال سلوک،محمد حمیدالله د سید مصطفی ژباړه ۲۳۲ مخ.
[46] داسلامي نړیول سلو ک – محمد حمیداله دډاکټر سیدمحمد مصطفي ژباړه ۲۳۲مخ

وروسته د هغوی یو خپلوان د مړي په لیدلو سر بد حاله شواو اوس ورته رواني ناروغي پیښه ده اوبي درمله ګرځي.[47]
د ارزګان ولایت چي له هغه ځایه د اعدام او سر پریکولو ډېرې پیښي ثبت شوي دي یو د ډیرو نا ارامو سیمو په ډله کي راځي،دا هغه سیمه ده چي طالبانودلته ډېر پلویان پیداکړي دي ارزګان یوازې هغه ولایت نه دی چي یوازې دغه شان وحشتناکي پیښي په کي شوې دي بلکي په نورو ولایتونو کي هم ورته پیښي لکه د سر پریکول تر سره شوي دي لکه په په کندهار ،هلمند،غزني اونورستان کي په ۲۰۰۶،۲۰۰۵او ۲۰۰۸ کلونو کي ورته پیښي سرته رسیدلي دي .
د مثال په ډول د ۲۰۰۷ کال دنومبر په میاشت کي د بي بي سي خبریال د سر پریکونو او اعدامونوخبر ورکړی دی : بي بي سي لیکلي وو (( پولیسو ویلي دي چي طالبانو یوه ښځه او یونارینه دولت او بهرنیانوته د مخبري په تور نیولي دي او د هغوي سرونه یي پریکړي دي .
یوه ښځه او نارینه چي د طالبانوله خوانیول شوي وو .ازاد کړل شول دغه پنځه کسه د کابل په سهیل کي د غزني ولایت د قره باغ په سیمه کي د بندیانو په توګه نیول شوي وو.مخکي طالبانو اعلام کړي وو چي دوی یو ۱۵ کلن ځوان و امریکایانو ته یي د جاسوسی په تور باندې په دار وځړاوو.[48]
(٤۷) په کندهار کي له یو ۵۹ کلن سړي سره مرکه
(٤۸) د بي بي سي خبریال طالبانو د دوه کسو سرونه پرې کړي.د۲۰۰۷ کال د نوامبر۳مه
د ۲۰۰۸ کال د جولای په میاشت کي د دوو چادری لرونکو ښځو تصویرونه د اسوشیتید پرس له خوا خپاره شوی وه. ددغو دووښځوژل د ملي او نړیوالو رسینو له پاره ننداري ته ایښودل شوی وو، په فلم کي ښودل کیږي چي پردغه دووښځو دمرمیوډزې کیږي، خووروسته ددوی سرونه هم پرې شوی وه، ددغو دووښځو جسدونه د ګواښ په نیت د قتل په سیمه کي د ننداری له پاره ایښودل شوی وو. د طالبانو جګړه مارانو ویل چي د غه دوه ښځي د اخلاقي فساد له امله او هم په غزني کي د امریکائي هډوسره د مرستي په خاطروژل شوي دي، په هرحال د غه دوو ښځوته وخت نه وو ورکول شوی چي، د خپل ځان ددفاع د پاره وکیل ونیسی او یا کومي محکمي ته ورشی.٤۹
یوبل خبر د DW-WORLD-DE د سایټ څخه په فارسي ژبه خپور شوچي هغه د ۲۰۰۷ کال په فبروری کي طالبانو د ری کسه اعدام کړي وه. یو پولیس خبریال ته په مرکه کي ویلی وه چي یو ددغه درې کسانو څخه هغه پولیس ووچي ځان یي و طالبانو ته تسلیم کړی وو، ددغه ریوته په حواله دغه وژل شوی کسان د امریکایانو مخبری په تورینول شوی وه، یوسف احمدی د طالبانو ویندوی هم دغه خبرمنلی دی.۵۰ په ځینو نورو قضیو کي طالبان ټولني ته د پیغام استولو له پاره د قربانیانو د وجود غړي پریکوی، د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کمیسیون په ۲۰۰۷ کال کي د "د نړیوال بشر دوستانه قوانینوترپښولاندې کول د اندیښنو وړ قضیو نموني" د نورو قضیو ترڅنګه د دوو ډریورانو د بدن غړو د پریکېدو قضیه چي هغوی د آیساف او ناټو ځواکونو ته خوراکي توکي د نورستان ولایت د کامریش ولسوالی ته لیږ دول هم شامل دی، دغه قضیه په دې ډول ده:
باروړونکي موټران د کنړ ولایت د اسد آباد په لوري په حرکت کي وه، چي د ماپښین پر ۱:٤۵ دقیقه د هغوی موټران و درول شول، یوه وسله واله ډله راغله چي پوځي یونیفورم یي اغوستی او توری خولی یي پرسروې او کلاشنکوفونه او توغندی ورسره وې. ددغه دریو موټروانانو څخه یویي په ځغستا بریالی کیږی او تښتي چي پاته دوه نور موټروانان او کلینران دوسله والو له خوا نیول کیږی او وهل، ټکول کیږی وسله وال موټرونه تلاشي کوي او د موټروانانو شخصي مالونه غلاکوي او بیا د هغوی موټروته اوراچوي او په دې ډول موټران سوځوي. د موټر د سوځولو په وخت کي هغو کښنول کیږې او د چاقو په وسیله د هغوی غوږونه پرې کوي، یو ددغه موټروانانوڅخه وویل چي د هغه بل موټروان غوږ ځړیده خوزماغوږ بیخي پرې شوی وو.
وروسته هغوی موتروانانو ته وخت ورکړچي و تښتي، خو د تښیدوپه وخت کي یي پردوی ډزې و کړي ترڅو هغوی نورهم ویریږي دغو مرمیو ډزو لس دقیقي دوام وکړ او موټروانانو د تښتیدلو په وخت کي څوځله خپله لاره بدله کړه او یو وحشت جوړشو. که څه هم موټروانان په دې بریالي شول چي و تښتي خو څوځله هغوی په لاره کي ضعف وکړ او په ډیر وحشت سره په پای کي دیوې لویې ډبرې شاته ځانونه پټ کړل، کله چي تښتیدلي موټروانان ګوري چي یو موټر راروان دی نو دوی هغه ته لاس ورکوي ترڅو یو خوندی ځای ته ځانونه ورسوی خو د دولت مخالفین بیارا پیدا کیږي او پرموټر ډزي کوي چي له امله یي موټر دیو دیوال سره جنګیږی. کله چي

---

[47] په کنړ ولایت کي دیو ۲۵ کلن کس سره مرکه د ۲۰۰۸ کال فبروري ۲۵
[48] په کندهار کي دیو ۲۸ کس سره د کمیسیون مرکه د ۲۰۰۸ کال د فبروري۱۳

موټروانان د پيښي اصلي ځای ته راځي نو د ايساف د ځواکونو له خوا وژغورل شول. د غوځواکونو د لوګيو په ليدلو سره دغه ځای ته راغلي وو او د دوی مرسته يې وکړه.[٤٩]
په يوه بله قضيه کې د ۲۰۰۸ کال د سپتامبر په مياشت کې طالبانو د زابل په ولايت کې د ښوونکي يو غوږ وپريې کړ. د زابل د ښووني او روزني رئيس ويلي د چې ، د غه ښوونکي په يوه ښوونځي کې کارکاوه چې دغه ښوونځی نوی پرانستل شوی وو، طالبانو هغه و تښتاوه اول يې وهل ټکول ورکړل او بيايي غوږونه ځنی پرې کړل، هغه وويل چې دولس قومی مشران د ښونځي د پرانستلو په خاطرچې ګډون يې پکيې کړې ووهغه ووهل اووټکول.[٥٠]
۳_ تزويري ځان مرګی بريدونه:
په ۲۰۰۶، ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونو کي ځان مرګي بريدونه ډيرشوی دي.[٥١] ځينی وختونه دولت مخالفين په قصدي ډول داسي ځای ځان مرګی بريدونه کوي چې د ملکي اولس ګڼه ګوڼي وي. په ځينو نورو قضيو کې د ځان مرګی بريدونو کسانو د پوځي هدفونو په نښه کولوکي ملکي کسانو ته ډير بد زيانونه رسولي دي. ځان مرګی بريدونه په ټوليزه توګه په تزويری ډول باندی کيږي. ځان وژونکي د جګړې د قوانينو د ملاتړ د ګټوځخه ناوړه ګټه اخلي. مثلا لکه عادي ملکي کسان کالي اغوندي او داسی ښئي چې ګواه ټيپان شوی دی او يا غواړي چې تسليم شی او د مقابل لوری اعتماد پرځان راولي. دا په ښکاره ډول د جګړې د اصولو پرخلاف دي د جګړې قانون امر کوي چې په جګړه کې بايد د پوځي او غير پوځي کسانو توپير وشي، که هرڅومره ددغه اصل ځخه ناوړه ګټه و اخيستل شی نو د ملکي او پوځي خلکو په توپيرکي ستونزی راځي. وروستی پايلی راښيي چې ډير ځله ملکي کسان د پوځي کسانو پرځای په نښه شوی دي.
له هغه ځايه چې ځان وژونکي بريدونه د دښمن پرضد يوه نوی پديده ده نو د اسلام په تاريخ کې په دې اړه کوم څه نه ليدل کيږی، ولې د ځان مرګي بريدونو د شکل او پيښيدوسره د اسلام ډير عالمان مخالف دي او هغه غندنه يې کوي؟.
لاندی کرښی هغه اعلاميه ده چې د ديوبند د دينی علومو مدرسې خپره کړې ده او په هغه کې يې ځان مرګي بريدونه په کلکه باندی غندلي دي.
ځان وژنه د اسلام له نظره يو ناروا او ناجايزه عمل دی او هيڅ ډول دينی او شرعي صبغه نلري او نه يې لرله، ځان وژنه د اسلام په دين کې ناروا عمل دی او حرام ګڼل شوی دی، انسان د خپل نفس مالک نه وو او نه دی، بلکې دا د پاک الله ذات دی چې د نفس مالک او تصرف لرونکي دی. د دغه لوی امر د حقيقت بخښني له پاره د هندوستان د ديوبند د دين علما پخپله اعلاميه کې تروريستي او ځان وژونکي بريدونه چې ډير ځله د پاکو او معصومو کسانو د وژني سبب ګرځي دا عمل د اسلام او د انسان ضد يوعمل بلل شوی دی. د دغه علمي مرکز علما په سيمه کې د اسلامي روزني ډير قوی علما دي د سه شنبه په ورځ يې د غه اعلاميه خپره کړه چې تروريستی بريدونه، تاوتريخوالی او د بيګناه کسانو وژل د پاک الله د فرامينو پر ضد دي چې په ځينو کې يې داسی راغلي دي. په نړۍ کې تروريستی بريدونونه او په ځانګړي توګه په افغانستان او عراق کې چې ډير ځله ملکي کسان دهغه قرباني کيږي د اسلام له نظره رد کړل شوی او د دغو اعمالو کوونکو ته چې د اسلام ضد عملونه کوي بلنه ورکوي چې د غه اعلاميه د اسلام د نړۍ د لويو علما وو له خوا تصويب او قبوله شوې ده.[٥٢]
د پورته اعلاميي او نورو اعلاميو سره سم د مختلفو علما وو له خوا خپرې شوي دي په هغو کې ځان وژونکي بريدونه قانوني جواز نلري په ځانګړي توګه چې د پوځي او غيرپوځي کسانو ترمينځ توپيرنکوي او په همدغه حالت کې په غير متناسب او تذويری ډول د ملکي کسانو پرضد کيږی، هيڅ جواز نشته.
په يوه بله قضيه کې چې د افغانستان د بشر حقوقو په خپلواک کميسيون کې ثبت شوې ده، هغه د خوست په ولايت کې يوځان وژونکي د خوست د والی د وژلويه خاطر د ۲۰۰۷ کال په فبروری کې د ډاکتر د جامو په اغوستولو سره خپل ځان د خوست ولايت په روغتون کې خپل ځان د بمونو په الوزلوسره واژه. د خوست ولايت د روغتون د بيړنيو ناروغانو د معالجي کوټې د پرانستلو په وخت کې وو ځان وژونکي چې سپيني جامې يې اغوستې وې (د روغتون د کارکونکو جامې) غوښتل يې چې د افغان او امريکايي پوځيانو له مخې تيرشي کوم چې د والی د امنيت د پاره ولاړ وو. داکس له دې ناخبره وه چې څومره تاوان به روغتون او د دی ځای

---

[٤٩] د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کميسيون د نړيوال بشردوستانه قوانين. د انديښنو وړپيښ.
[٥٠] د ملی ارمان ورځپاڼه – د ۲۰۰۸ کال د سپتامبر ۱۵، ۱۲۸۶ اګڼه.
[٥١] يوناما: په افغانستان ځان مرګی بريدونه د ۲۰۰۷ کال سپتامبر، ۴۲ مخ
[٥٢] د غه سايټ دې د کتل شي
http/www.bakhtarnews.comaf/?lang=DtcontId5084

کارکونکوته ورسيږي غوښتل يې چې والي ووژني د پرانيستې په وخت کې د والي سربيره د غير دولتی موسسو غړي، د روغتون ډاکتران، د ولايت د بيا جوړلو ټيم او د دولت نورکارکونکې هم موجودوه. کميسيون ته وويل شول چې د غه کس ددې ترمخه چې د خوست والی ته ځان وروروسوی خپل بمونه والوزول چې په پايله کې دوه کسه پوځي او غير پوځي کسان ټپيان شول.

د خوست والي د غه پيښه داسې بيان کړه:

د ۲۰۰۷ کال د فبروری په مياشت کې د خوست ولايت په روغتون کې د پرانستلو يو مجلس جوړشو، زه هم د وينا کولو له پاره بلل شوی وم، هغه وخت چې ماخپلی خبرې پای ته ورسولې راغلم مخامخ خلکوته کېناستم، ومي ليدل چې ځينی کسان شاوخواته منډې وهی، ځني کسانو ماته وويل چې دوی د الله اکبر غږ اوري هلته د ځان وژونکي برید امکان شته دی.خو ما پخپله څه نه دی اوريدلي.

خلکو هرې خواته منډې وهلې خو زه د خپل مقام په خاطرله ځايه ونه ښوريدم. ما له هغو کسانو څخه چې ماته نژدې وه و پوښتل چې څه خبره ده خو چاراته ځواب رانکړ، وروسته مې امريکايي پوځيان وليدل چې ديو چا سره لاس په گرېوان وو کوم چې سپينې جامې يې په تن وې. هغه سړی خپلی جامی ښورولي او ويل يې چې هيڅ شی نه لري يوه امريکايي پوځي پرهغه ډزې وکړې چې، د هغه پر پښو ولگيدله هغه ولويده له دې سره لويه چاود نه وشوه زه مرگ ته ډېر نږدې وم او دهغه ځان وژونکي د ځان ټوټې زماشاوخواته پرتې وې. برید کوونکي ډېر ماته نژدی شوی وو [...] هغه زمانه په ۱۳ متره واټن کې ځان والو زاوه.[٥٣]

ددې روغتون يو کارکونکي ددی پيښې په اړه داسې وايي:

يو کس چې دډاکټرانو سپيني جامې يې په تن کې وې د روغتون دلويې دروازې په مخ کې د ساتونکو له خوا درول شوی وو. دغه کس غوښتل چې روغتون ته ننوزي خو امريکايي پوځيانو هغه ته د ننوتلو اجازه نه ورکول، تر دې وخت پوری ټولو بلل شوی کسانو خپل ځانونه امن ځايونوته رسولی وه او د هغه وروسته ما د گوليو ډزې واوريدې او بيانو ديوې غټې چاودنې غږ زماغوږوته راغي.ما هڅه وکړه چې د ځايه ليرې ولاړشم او امن ځای کې ودرېږم پوه شوم چې هرڅه ترکنترول لاندې دي.

دايوغټ او مهم بريد وو، په غه وخت کې ما د خوست د خلکو د روغتيا په اړه فکر کاوه، که چېری زه په هغه وخت کې مړشوی وای نو څوک به وی چې د دغو اړوخلکو روغتيائی حالت ته توجه وکړی؟[٥٤]

له دې پيښې وروسته د پاکستان څخه د خوست والی ته په يوه تيلفون کې وويل شوه چې په دې پيښه کې هغوی خپل يوډېر هوښيا رکس د لاسه ورکړی دی خو ستاد وژلو له پاره يو بل گروپ ته دنده ورکړل شوې ده. د دغه تيلفون وروسته د ۲۰۰۷ کال په اگست او اکتوبرکې دوه ناکامه بريدونه وشوه چې هغه هم هدف ته نه دی رسيدلی خو په هغه کې ملکې کسانو تاوانونه رسيدلی دي.[٥٥]

د ۲۰۰۶ کال په سپټامبر کې ځان وژونکي بريدونه هغه وخت زموږ په هيواد کې ډېری شوې چې يو کمکې ځوان په عادي جامو کې له هغه امنيتي کربنې تيرشو کوم چې د پکتيا د والي د ښخولو د پاره ترتيب شوې وه، د غه ځوان ددغو کړيو څخه تيرشو او ځان يې د ملکې او پوځي کسانو په منځ کې په بم والو زاوه. د پکتيا والی پخپله هم د ۲۰۰۷ کال په سپټامبر ۱۰ کې د يو ځان وژونکي بريد په پيښه کې مړشوی وو.

يو کس چې د ښخولوپه يادوشويو مراسموکې گډون کړي وو د دغه پيښی په اړه داسې وويل:

د ښخولو په ورځ ډېر خلک زماپه گډون د خوست ولايت دوالي په خونه کې سره راټول شوی وو [څرنگه چې د پکتيا مړشوی والی د خوست او سيدونکی وو نو دښخولو مراسم هم په خوست کې ترسره شول] کله چې موږ د ښخولو سيمې ته ورسيدونو وموليدل چې د ملي اردو پوځيان، ملي امنيت، ملي پوليس او نورو داخلي ځواکونو ددې سيمی امنيت ساته، د ښاغلی تنيوال جنازه (د پکتيا وژل شوی والی او د هغه دوه خپلوان) د ځينو ميلمنو سره د هليکوپټرونو په وسيله سيمی ته راوړل شول، د ايساف هليکوپټرونه هم دسيمی د امنيت له پاره څارکاوه. په دې مراسموکې د ۱۰۰۰ کسانو په شاوخواکې خلکو گډون کړې وو. ځايي پوځيانو او پوليسو د هليکوپټرونو د ساتنې له پاره دهغوی پرشاوخواکړۍ جوړه کړې وه په ۱:۳۰ بجوباندی د غه جسدونه خاوروته وسپارل شول او ميلمانه بيرته و هليکوپټرونو ته ورغلل، څوکسه و هليکوپټرونو ته ننوتلی وه او څوکسه نور لا د ننو تلوپه حالت کې وه.

ما يوتنکی ځوان چې، ۱۵کلن ښکاريده وليه چې د ميلمنو خواته يې وروځغستل. دغه ځوان عادي لباس په تن لاره ماله خپل ملگری څخه و پوښتل چې داځوان ولی ځغلي؟ زماملگري وويل چې داسيمه ډېره ليری پرته ده او

---

[٥٣] د خوست والی ارسلا «جمال» سره مرکه ۲۰۰۸ فبروری ۳

[٥٤] به خوست کی د يو ۴۲ کس سره د کميسيون مرکه د ۲۰۰۸ .کال فبروری.

[٥٥] د خوست والی ښاغلی ارسلا جمال سره مرکه د ۲۰۰۸ کال د فبروری می.

د غوخلکو هلیکوپټرونه نه دي لیدلي نو دغه ځوان غواړی هلیکوپټر له نژدې څخه وګوري، په هرحال کله چې هغه د امنیت کرښې ته نژدې شو پوځیانو هغه ته د دریدو امر وکړ او هغه هم له ځان پورې تړلی بم واوزاوو.
زه دې چاودنې ته نژدې وم او په خپلوسترګومی ولیدل چې ځینی کسان ټپیان شوي دي او د وجود څخه یې وینې جاری دي. ددغه چاودنې وروسته ماته وویل شول چې ۹ کسه پولیس وژل شوي دي او ۱۵ کسه ملکې کسان ټپیان شوی دي. [...] خو وروسته چې ما معلومات تر لاسه کړل ۱۱ کسه پولیس او ۲ کسه ملکې کسان شهیدان شوي وو او نور ٦٠ کسه ملکې کسان ټپیان شوي وه چې د هغو ډیره برخه سخت ژوبل شوي وه.[٥٦]
۴_ د جګړې نورغیر قانوني ډولونه _ بې له توپیره په توغندیو باندی بریدونه او د پوځي یونیفورم څخه بیځایه ګټه اخیستنه:
_ بیله توپیره په توغندیو باندي بریدونه:
ددغه رپوټ، په جوړولوکې کمیسیون ځینی قضیې د کنړ په ولایت کې ثبت کړې چې د دولت مخالفینو بیله توپیره په توغندیو باندي بریدونه کړي دي. دکنړ ولایت یوغرنی ولایت دی او ستراتیژیکې موقعیت لري له دې ځایه دولت مخالفین پردولتی او نړیوالو ځواکونو باندي بریدونه کوي. د غه بریدونه د ۲۰۰۷ کال په نیمایي کې د امریکایي هڅود نښه کولو په منظور ترتیب شوی وو خو د هغه پرځای ډیری توغندي د نژدې کلیو پر ملکي کورونولګیدلي وو چې د هغه له امله ۷ کسه شهیدان، څو تنه ټپیان او د ځینو کسانو مالونه د مینځه تلي وه.
یو ۱۷ کلن ځوان ددغه کلي او سیدونکی داسی وویل:
د ۲۰۰۷ کال په اوړي کې موږ (پلار _ مور_ خویندې او ورونړه) پخپل کورکې ناست وو چې د ماسپښین پر ۳ بجو یو توغندی زموږ پرکور راولویده ټپیان شول، مور او ۸ کلنه خور می و وژل شویې.
ددغه پیښی ترمخه مي پلار لوست ورکاوه خو ددې برید وروسته زماپلار خپله دنده د لاسه ورکړه او اوس بیکاره دی. زموږ کور امریکای هڅوته نژدې پروت دی. دغه لومړی ځل نه دی چې د غسی پیښه واقع کیږی. زموږ په سیمه کې هرکله چې د دولت مخالفي ډلي پر دغوا هڅو توغندی او روي او امریکایي هڅې په نښه کوي،له بده مرغه چې هغوی خپل هدف نه ولی بلکې زموږ کورونه د هغوی هدف ګرځي، او دا د هغوی د بریدونو نتیجه ده.[٥٧] یو بل کس ورته داستان له همدې کلي نه داسی بیانوی:
د ۲۰۰۷ کال په اوړي کې د ماسپښین پر ۳ بجو باندي یوه توغندۍ زموږ پر کور ولګیده، په دغه وخت کې زه په کورکې نه وم. زما زوی او میرمن په دې بریدکې ووژل شول اولاد می ټپیان شول، کور می خراب شو، څرنګه چې د امریکایانو پوځي هڅه زموږ کورته نژدې پرته ده، د هغوی پوځیان راغلل او زمالوریې د درملنی د پاره د ځان سره ...
۴۹
له ځآن سره یو وړ. [...] که څه هم لور مې د بګرام په اړه پنځه ویشت ورځې بستره وه خو په پای کې یې ښۍ پښه پرې شوه.[٥٨] که څه د دولت مخالفین موخه د راکټونو له ویشتلو څخه د ملکې کسانو د کورونو ورانول نه دي خو هغوې د دغو زړواو نادقیقه راکټونو د کاروني له امله د ویجاړتیاوو لامل بلل کیږي. د نادقیقه راکټونو ویشتنه ددې څرګندونه کوي چې دولت مخالفین د ملکې خلکو ژوند ته پاملرنه نه کوي چې په پایله کې هغوې د داسی یوې فضا په رامخته کېدوکې ونډه لري چې د خلکو دویری لامل ګرځي او د هغوی ورځنی ژوند ګډوډوي، د راکټي بریدونو څخه مخکې ځایي خلک نه ووګواښل شوي، مګر وروسته بیا دولت مخالفینو شبنامې خپرې کړې او له ځایي خلکو و غوښتل یا کلی او کور پریږدي او یا داچې له امریکایانو سره وجنګیږي.
ددې اټکل کیږي هغه راکټونه چې له لیرو واټنونو ویشتل کیږي په خپلو اهدافو نه لګیږي، که هدفونه په ناملکې ځایونو کې وي نوتیروتنه به د ملکي کسانو د ځاني او مالي زیانونو لامل نشي، خوکه چېرې هدف د ملکي استوګنو سیموته نږدی وي، اسلامي قوانینو له مسلمانو جنګیالیو غوښتي دي چې، د شونتیا تربریده پر هدف د برید مخنیوی وکړي. په ځینو حالتونو کې، د بېلګې په توګه د محاصرې په حالت کې باید پر دښمن له لېرې وا ټن برید وشي او ډیری ترکلابندۍ لاندې ځایونو کې برسیره پرناپوځي کسانو، ښایي مسلمان سیلانیان یا مسلمان یرغمل او نور وي. همدارنګه ځینې مهال دښمن ښځې، کوچنیان او یا مسلمان یرغمل د ډال په ډول کاروي په ټولو دغه حالتو کې د اسلام سر تیروته سپارښتنه شوې چې د شونتیا تر بریده ناپوځیان هدف و نه ګرځوي.»[٥٩]
د یو ځي یو نیفورم څخه ناوړه ګټه

[٥٦] په خوست کې د یو ٤٠ کلن کس سره د کمیسیون مرکه د ۲۰۰۸ کال جنوری ۳۱.
[٥٧] په کنړ کې د یو ۱۷ کلن کس سره د کمیسون موکه د ۲۰۰۸ کال د فبروری ٢٤.
[٥٨] له څلوئښت کلن یرې سره (نوم یې پټ) د کمیسیون مرکه، کنړ، ۲۰۰۸ کال و فبروری ٢٤ مه
[٥٩] د اسامی دولت نړیوال چلند، محمد حمید اسستد، ژباړه او څیړنه د ډاکتر سید مصیفي محقق داماد، ۲٦٠ مخ

د هغه ناقانونه چلندونو له شمیره څخه یو چلند چې د کمېسیون له خوا په نښه شوې د دولت مخالفینو له خوا د دولتي پوځي یونیفورم او د نړیوالو پوځونو له یونیفورم څخه ناوړه ګټه اخیستنه ده. د بېلګې په توګه د کنړ یو اوسیدونکی چې کوربې د دولت مخالفین له خوا وویشتل شو داسې وایي:

[...] هغوي زه له خوني رابهرکړم، د خوني بهرمانور طالبان هم ولیدل هغوې به اټکل شل کسان وو، د هغوې ځینو د ملی اردو او ځینو یې د امریکایی سمندري ټوپکوالو یونیفورم اغوستی و، نوریې په ملکي جاموکې وو، خوټولو خپل مخونه پوښلي وو. (...)[٦٠]

دې ته ورته قضیه کې چې پورته یې یادونه وشوه (م ب، پیژندنه – د دولت مخالفینو په کاردودونو کې لابون – پورته). دولت مخالفین د افغانستان د ملی پولیسو د یونیفورم په کارولو سره څوتنه پولیس ونیول او بیایې ووژل د رینجر ډوله دوو موټرو په وسیله چې پخوایي له پولیسو غلا کړي وو، ځانونه یوې امنیتي پوستې ته رسوي، یوېې ځان د ملی پولیسو د قوماندان او بل یې د نړیوال همکار په بڼه ځان څرګندوي او په پوسته کې موجود پولیس نیسي. بیا ټول د غه کسان د ملنګ کاریز په سیمه کې وژني او مړي یې د کندهار په بیلابیلو ولسوالیوکي د خلکو د ننداري لپاره ایښودل کېږي.[٦١] مطبوعاتو هم د دولت مخالفینو له خوا د دښمن دیونیفورم څخه د ګټې اخیستنې په اړه راپورونه خپاره کړیدي. د بېلګې په ډول، د ۲۰۰۸ کال په پیلامه کې اسوشیټد پرس د ملانقیب الله په نوم د طالبانو د یو مشر د نیوني خبرور کړ چې، دنیوني پر مهال هغه او جنګیالیو یې د پولیسو یونیفورم اغوستی وو او له هغې نه په ګټې اخیستنه یې د هلمند ولایت مرکز د لښکرګاه د ښارپه شمال کې د پولیسو یو کاروان ته کمین نیولې وو.[٦٢] دولت مخالفین و چې د ۲۰۰۸ کال په جنوری کې د کابل سرینا پر هوټل بریدوکړ او په نړیوالو رسینوکې یې پراخ غبرګون درلودهم د پولیسو له یونیفورم څخه ګټه اخیستی وه.[٦٣] په کورنیو شخړواوجګړوکي نړیوال ټولیز قوانین له بیرغ، نښو، پوځي نښو او د دښمن د یونیفورم کارونه منع کړیده. د افغانستان کورنیو قوانینو او نړیوال ټولیزو حقونو هم په نړیوالو نښتو او جګړو کې د دا ډول لارو چاروکارونه په کلکه منع کړیدی.[٦٤]

۷_ د دولت مخالفینو د سرغړونو اوږد مهاله پایلې

هغه سر غړونو چې په دغه رپوټ په مستنده بڼه راغلي د اوږده مهال پایلې له ځان سره لري. ددغو بریدونو موخه یوازی مشخص قربانیان نه دي، بلکې د ټولی ټولني ته ګواښ او سزاورکونه ده. همدارنګه د دغو بریدونو څخه رامنځته شوې ویجاړتیاوی چې د روغتونونو، ډاکترانو، بشرپاله او روغتیایي خدمتونو، د ملکي تدارکاتو پرکرښو د موادو لیږدونکو، ښوونکو، ښوونځیو په ګډون دي د ظاهري هدفونو په پرتله، پراخه اغیزې لري چې دولت مخالفین پری ښه پوهیږي. په افغانستان کې د دریولسیزو جګړو څخه پاتی شویو ستونزوته په پاملرنه، په هره کچه چې د یاغیانو بریدونه زیاتیږي په هماغه کچه نوي ټولنیزی ستونزی منځته راځي.

د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک په ۲۰۰٦، ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونوکې د افغانستان د اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي حقونو وضعیت څیړلي دي. کمیسیون د ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونو په څیرنه کې د ١٥٥٦٦ تنوسره (۲/٤٥%ښځي او ٥٤/۸% نارینوو) په ټول هیواد او د هیواد په لرو پرتو سیمو کې مرکې کړیدي. د غه څیرنه د ۳٤ ولایتونو څخه په ۳۳ ولایتونونو کې شویده.[٦٥] په دغه راپورکې ارزول شوي او مستند شوي ارقام ددې څرګندونه کوي چې دولت مخالفینو اوضاع ترکومه بریده ناوړه کړې او د ورځنی مزد اخیستونکي کارګرانوڅخه څنګه پخپله ګټه کار اخلي.

په هغه هیواد کې چې کاري فرصتونه لږوي، که چېری یوچلوونکی له پاکستان څخه افغانستان ته د مواد د لیږد په جرم ووژل شي نو، نورچلوونکي له دې کاره لاس اخلي، چې دا د ملکي د تدارکانو د کرښو په پری کېدو، وزګارتیا او د کورنیو د عاید په کمښت تمامیږي. همدارنګه دا د هیواد دکمزوري روغتیایي سیستم سره مخ دي، بریدونه لکه د خوست پر روغتون ځانمرګی برید ددې لامل شو چې پر روغتیایي خدمتونو د خلکو لاسرسی کمښت وموميې، د ډاکترانو ګواښل او درملوپه وړاندې د لارو ترل هم ورته پایلې لري. د زده کړو د ټیټې کچې په شتون سره، د ښوونکو وژنه ددې لامل ګرځي چې په ښوونځیو کې د زده کوونکو پرمخ د زیاتو زده کړو

---

[٦٠] له نتیجه ویشت مکن سرې سره (نوم یې پټ) د کمیسیون مرکه، کنړ، د ۲۰۰۸ کال د فبروري ۲٥ مه

[٦١] له دولتي مقام سره د نوم یې پټ) د ک میسیون مراکه، کندهار، ۲۰۰۸ کال د فبروری دویمه.

[٦٢] اسوشیټد پرس په افغانستان کې په ځانمرګي برید کې د دووپولیسو وژنه، ۲۰۰۸ کال د اپریل لومړی، و ګورئ http://news.yahoo.com/s/ap/afghanistan

[٦٣] بریدکوونکو د پولیسو یونیفورم اغوستی و و ګورئ http://www.msnbc.msn.com/id/2264/596

[٦٤] د افغانستان د جزا قانون ٤٥٥ ماده او د سره صلیب د ملي جمعیت د غړي د قوانینو اصول، ICRC، ۲۱۷ مخ.

[٦٥] د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، په افغانستان کې د اقتصادی، فرهنګي او ټولنیزو حقونو دویم راپور ۲۰۰۷ کال ۱۰۰ او رامخونه، وګورئ http://www.aihrc.org.af/rep-ESRLL-Eng-full-Text-30-Agu-2007.pdf

دروازې وتړل شي. کله چې دولت مخالفین یو زده کوونکی، ښوونځي ته له ورتګ څخه منع کوي، نو بیا ټول زده کوونکي ښوونځي ته نه ځي. پر هغو کارګرانو بریدونه چې په پرمختیایي پروژوکې په کارلګیادي د دې لامل ګرځي چې په ټولنه کې د ژوند د لوړتیا پرانګیزې منفي اغیزه وکړي اسلامي قوانینو د هغو کړنومخینوی کوي چې پرټولنې منفي اغیز پریږدي، د بېلګې له پاره دغه مطلب موږ د هجرت په شپږم کال کې وینو:
شمامه د یمامه د قبیلی مشر پریکړه وکړه چې کلی ته د غلې د لیږ د مخه ونیسي. په دې موخه چې کلمیان اسلام ته راوګرځي یا داچې رسول الله (ص) بل دستور ورکړي؛ خو کله چې مکه د قحطۍ له ګواښ سره مخ شوه او د کلي خلکو د بندیز د لیرې کولو غوښتنه وکړه، رسول الله (ص) شمامه ته ولیکل چې بندیزلیرې کړئ.[٦٦] نه یوازې بشري تدارکات بلکې نور ټولنیز تعاملات لکه روغتیایي خدمتونه[٦٧] سوداګری[٦٨] کار او ښوونه او روزنه[٦٩] هم د اسلامي قوانینو ترملاتړ لاندې دي.
الف: وزګارتیا
د افغانستان ډېری خلک کاري بوختیا او د عاید سرچینې ته اړتیا لري، په هغه راپور کې چې د کمیسیون لخوا په ۲۰۰٦ کال کې د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو په اړه خپورشو، ۳۵/۲% مرکه شویو په هیڅ ډول اقتصادي فعالیت کې ګډون نلرلو، هغه کسانو چې کاري بوختیا لري ۳/٦۰% دورځي له پنځوسو افغانیولږ عاید درلود او یوازی ۷/۳۹% یې له پنځوسو افغانیو زیات عاید لرونکي وو. د ۲۰۰۷-۲۰۰۸ کال د راپور له مخې دوزګارو خلکو سلیزه لوړه شوې وه. زیات اټکل کیږي چې په ټول افغانستان کې ناامنیي او نه ثبات دوزګارتیا په ډېر ښت غټه ونډه لرلې ده.[۷۰]
په افغانستان کې دوزګارتیا د کچې په لوړتیا سره، دولت مخالفین په ټولیزه توګه خلک له دوو سره مخ کوي، وزګارتیا او یا داچې خپل ژوند له ګواښ سره مخ کړي. یو ۳۵ کلن سړی چې د پنجوایي په ولسوالۍ کې یې د یوه پل د جوړولو په پروژه، کې کار کولو د ۲۰۰۸ کال د جنوری په میاشت کې ددې شاهد و چې هغه پل د دولت مخالفینو لخوا ویجاړشو. که څه هم اټکل کېده چې بیابه په دې پروژه برید وشي، مګرهغه سړی خپل کارته دوام ورکړ، هغه د کار په اړه د خپله پریکړه هله کمیسیون سره داسې شریکه کړه. ما پریکړه کړیده چې د پروژې تر بشپړیدو خپل کارته دوام ورکړم. ځکه زه د خپلې کورنی د نفقې لپاره د عاید بله لاره نلرم.[۷۱] همدانګه یو دیرش سړي چې د خوست ولایت د (پي ارټي) د بیارغوني له ډلې سره کار کاوه، د طالبانو لخوا د خپل کار د پرېښودو په اړه څلور شبنامې ترلاسه کړې وی، وروستی هغه یې د ۲۰۰۸ کال د مارچ په میاشت کې ورته ورسیده، د شبنامې له را رسیدولړه موده وروسته دغه سړی کمیسیون ته وویل چې خپل کار به پری نه ږدي.
«په لیکونو کې راغلي ووچې له امریکایانو سره خپل کار پریږدئ، نوموړنه هم په لیکونو کې وو، مګر موږ په داسې دریځ کې نه ووچې کار پریږدو، دلیل یې روښانه و زموږ د کورنی لپاره د عاید یوازني سر چینه وه.»[۷۲] له مرکې دوه اونۍ وروسته، دغه سړی او دری تنه خپلوان یې، په خپل کلي کې د طالبانو د یوه کمین قرباني شول، دوه تنه یې ووژل شول او دوه تنه یې ژوبل شول.
ب: روغتیایي خدمتونه
د دولت مخالفینو سرغړونو، افغانستان روغتیایي لړزنده سیتم لانور هم کمزوری کړیدې، د دغو کړنو اصلي اغیزمن، د ټولنې ترټولوزیات زیان لیدلې کسان کوچنیان، مېندې او لویان دي. کمیسیون د افغانستان د جنوب او جنوب خیتځ څخه داسې شواهد لاسته راوړي چې دولت مخالفین نیغ په نیغه خلک روغتیایي مرکزونو ته له تللو منع کوي او ورته وایي چې درملنې لپاره پاکستان ته لاړشئ، د کندهار ولایت یو قومي مشرکمیسیون ته ویلي دي: «طالبانو د ارغستان ولسوالی خلکو ته دستور ورکړئ چې کندهار او د دولت ترکنترول لاندې نوروسیموته مه ځئ، هغوې له خلکو غوښتي چې د خپلو ورځینو اړتیاوو د لیرې کولو او د ناروغو د درملنې لپاره پاکستان

---

[٦٦] ابن الاشیر، النهایه، ۱ ج، ۲٤۷ مخ.
[٦۷] کله چې لوی خدای عافیت او سلامتیا لیښی، د هغه قدرو پیژنی حضرت علي(ک) د نهج البلاغه ۹۸ خطبه (لاهیجی).
[٦۸] «... سوداګر ارامه خلک دي او د هغوې څخه څه ویره نشته، هغه خلک نچلانیه غواړي چې فتنه اچونکي نه وی ...» مالک اشتر ته لیک، (اسلامی دولت داي) حضرت علي(ک) د نهج البلاغه ۵۳ خطبه لاهیجی
[٦۹] «... د علم او پوهی په زده کړه کې مخکې له دې چې ونه یې و چه شي، هڅه وکړئ، او مخکې تروې چې د ځان په اړه بوخت شي د پوهی د کانې څخه علوم استخراج کړئ ...» حضرت علی (ک) ۱۰۵ خطبه، لاهیجی.
[۷۰] د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، په افغانستان کې د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو دویم راپور، ۲۰۰۷ کال، ۱۹۹۱۱٤ مخونه، وګورئ: http://www.aihrc.org.af/RepESRLL-Eng-Full-Text-30-Aug2007.pdf
[۷۱] له ۳۵ سړي سره (نوم یې پټ) د کمیسیون مرکه، کندهار، ۲۰۰۸ کال د فبروري ۱۳ مه.
[۷۲] له ۳۰ کلن سړي (نوم یې پټ) د کمیسیون مرکه، خوست، ۲۰۰۸ کال د جنوري ۳۰ مه.

ته لاړشي.»[۷۳] برسیره پردی، نورلاملونه هم پر روغتیایي خدمتونو دخلکو د لاسرسی مخنیوې کوي. ټولیزو نا امنیو ددې لامل شوي چې روغتیایی متخصصین د روغتیایي خدمتونو د ترسره کولولپاره ناامنو ولایتونوته لاړنشي. د بېلګې په توګه د ماشومانو د ګوزن(پولیو) ډېرې پیښې د افغانستان په جنوب کې پیښی شوي دي، مګرنا امني ددی لامل شوې چې قرباني ماشومانو ته درمل و نه رسیږي.[۷٤] روغتیایی کارکوونکي تل د بریدونو، یرغمل نیولو او ګواښولو موخې دي، د نړیوال روغتیایي سازمان دوه تنه ډاکتران د ۱۳۸۷ کال د تلې په ۲۳ مه هغه وخت دیوه ځانمرګي برید په ترڅ کې ووژل شول چې د ملګرو ملتونو په موټرکې سپاره وو او د کندهار ولایت سپین بولدلک ولسوالۍ ته تلل.
د کندهار له ولایت څخه یو ٤۸ کلن سړي کمیسیون ته دهغه ډاکټر کیسه وکړه چې مخکې تښتول شوی و:
"د ۲۰۰۷ کال په وروستوکې زموږ له کلي یو ډاکتر و تښتول شو، د غه ډاکتر ۹ ورځې له طالبانو سره و، کله چې ازادشو، طالبانو هغه و ګواښولو چې خپل شخصي ګتنځي له کلي ټول او خپل فعالیت بند کړي. دغه ډاکتر اوس په خپل کورکې دي او د چا در ملنه نه کوي. په روان ژمي کې زموږ د کلي د شپږ تنه ناروغان مخکې له دې چې د کندهار روغتون ته ورسیږي مړه شول."[۷۵]
یونولس کلن هلک په کنړکې کمیسیون ته وویل چې طالبانو د ۲۰۰۸ کال په فبرورۍ کې هغه خپل کلي ته د درملو له وړولو منع کړ، هغه وویل چاما د درملو پرځای د غنمو لېږد پیل کړ مګر بیا هم د سرحدی طالبانو مخینوي زه اړه کړم، له دې هم لاس واخلم.[۷٦] دغه نولس کلن هلک زیاته کړه چې وروریې په سیمه کې د بیارغونې د کمیټې رئیس و، د ۲۰۰۸ کال د جنورې په وروستیوکې د خپلو حسابونو د ترلولپاره پاکستان ته تللی وو، مګر د طالبانو لخواونیول شو او بیا پرتندي یوازې د یوې مرمې په ویشتلو ووژل شو.[۷۷]
ج: ښوونه او روزنه
داقتصادي، ټولنیزو فرهنګي حقونو په اړه هغه راپور کې چې په ۲۰۰۶ کال کې د کمیسیون لخوا خپور شوی، راغلي دي، د ۹۴/۴% سره چې مرکه شویده، ویلي دي پرښوونیزوخدمتونو لاسرسی لري، مګریوازی ۶۸/۵% یې ویلي چې کوچنیان یې کولای شي په منظم ډول ښوونځې ته لاړشي. ۷۳/۶% ویلي چې هلکان دي او ۶۳/۳% یې ویلي چې نجوني یې په منظم ډول ښوونځي ته ځي. په ۲۰۰۷-۲۰۰۸ کلونو کې وضعیت لاناوړه شوی دی. پرته له دې چې د زده کړو شونتیاوې په پام کې ونیسو، د کمیسیون نوی څېړنه ښئ چې ښوونکو په منظم ډول تګ کې د هلکان په برخه کې ۸% او د نجونو په برخه کې ۱۰/۵% کمښت راغلی دی. دغه کمښت دناامنیو، د ښوونځیو اود هغه کورنیو ته د ګواښ له امله رامنځته شوي چې خپل کوچنیان ښوونځیوته لیږي.[۷۸] پرښوونځیو، ښوونکو او زده کوونکو د دولت مخالفینو د بریدونو موخه داده چې په هربیه چې وي د افغانستان ښوونیزسیستم ویجاړ کړي. برسیره پرهغه قضیو چې د راپور د څېړلو په بهیر کې لاسته راغلي، یونیسف یا د کوچنیانو لپاره د ملګروملتونو د مرستو صندوق هم د دولت مخالفینو لخوا پرښوونځیو د بریدونو خبرورکړې چې یوه بېلګه یې داده:
د ۲۰۰۷ کال د جولایي نهمه نیټه ددوشنبې په ورځ، دولت مخالفینو د کنړ ولایت پریولومړني ښوونځي دوه راکټونه و ویشتل چې یوکوچنې مړ او دوه نورټپیان شول. په همدې شپه د غور په ولایت کې یوښوونځی وسوځول شو، سباشپه یوځان مرګي، ځان د ارزګان ولایت په بازار کې چې له زده کوونکو ډک و وچاوه.[۷۹]
د بشري حقونو د څارډلی د ۲۰۰٦ کال راپور د افغانستان پرښوونیزسیتم د دولت مخالفینو د پراخه بریدونو څرګندونه کوي. ددغې ډلې په راپور کې دلړترلړه نولسوتنو ښوونکو او ښوونیزو ادارو د کارکوونکو له وژنې یا دونه شوي چې د ۲۰۰٤ او ۲۰۰۵ کلونو کې پیښ شوی و.[۸۰] د اوسنیو اطلاعات پربنسټ په ډېره څرګنده توګه

---

[۷۳] له قومي مشر سره (نوم یې پټ) د کمیسیون مرکه، کندهار، د ۲۰۰۸ کال، فبروري.
[۷٤] د عامی روغتیا وزارت مطبوعاتي اعلامیه، نړیوال روغتیایي سازمان او یونیسف، د ۲۰۰۷ کال د سپتمبر ۲٤ مه، و ګورئ.
http://www.moph.gov.af
[۷۵] له ٤۸ کلن کلن سړي سره (نوم یې پټ دې) د کمیسیون مرکه، کندهار د ۲۰۰۸ کمال د فبروري ۱۳ مه.
[۷٦] له ۱۹ اکلن هلک سره (نوم یې پټ) د کمیسیون مرکه، کنړ د ۲۰۰۸ کال د فبروري ۲٤ مه.
[۷۷] له ۱۹ کلن هلک سر، (نوم یې پټ) د کمیسیون مرکه، کنړ د ۲۰۰۸ کال، د فبروري ۲٤ مه
[۷۸] د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، په افغانستان کې د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو دویم راپور، ۲۰۰۷ کال، ۳۰ او ۳۱ مخونه، وګورئ: http://www.aihrc.org.af/Rep-Esrll-Eng-Full-Text-30-Aug-2007.Pdf
[۷۹] په افغانستان کې د یونیسف داستازي وینا، ۲۰۰۷ کال د جولای لسمه، و ګورئ
http://www..unicef.org/infobycountry/media-40260.html
[۸۰] د بشري حقونو د څار ډله، د افغانستان پرپوهنې بریدونه، ۲۰۰٦ کال جولای.

لیدل کېږي چې له پخوا څخه وضعیت لاناوړه شوي او د ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونو کې پرښوونځیو بریدونو لازور اخیستی دی.

د_ د زیان جبران او بشري تدارکات

دولت مخالفین د دولت دویجاړتیا د هڅو په بهیر کې وخت له لاسه نه ورکوي که څه د ملکي کسانو د ژوند په بیه تمام شي. کمیسیون داسې زیاتې قضیې ثبت کړیدي چې کلیوالو خلکوته د خوړو د نړیوال سازمان او یا دولایتی بیا رغوني دټیم بشرپاله ویش شوې مرستی د هغوی لخوا بیرته اخیستل شوي دي. په یوه قضیه کې چې یا دونه به یې وروسته راشي، دولت مخالفینو هغه پیسې چې کلیوالوته د هغوی د کروندو او مکېتونو د ویجاړتیا په بدل کې د ولایتی بیا رغوني ټیم لخوا ویشل شوی وی، بیرته له کلیوالو اخیستی دي.

په یوه بله قضیه کې د کندهار استوګن ٤٨ کلن کلیوال د ۲۰۰۸ د فبرورۍ په ۱۳ مه کمیسیون ته وویل چې اټکل دوه میاشتې مخکې، وروسته له هغه چې د ولایتي بیا رغوني ټیم دوه سوه کېلو ګرام غنم، دوه قطی غوړي، درې پټوان اوځینې نورشیان په پرله پسې دریو ورځو کې پردرۍ سوه کورنیو وویشل، دولت مخالفینو د کلي اوسیدونکي وګواښل او ځیني یې پرعمل کړل چې مرستې ترې بیرته واخلي. دغه سړی داسې کېسه وکړه:

کله چې له غرمې وروسته د مرستولارۍ لاړی، څوووسله وال طالب راغلل او یولړ مرستې یې له ځان سره و لیږدولي، هغوی موږته وویل چې دا مرستې د کفارو لخوا دي نو د مذهب پلوه له هغې نه ګټه اخیستنه روانه ده. دویش په دویمه ورځ طالبان رانغلل، خو دریېمې ورځې له غرمې وروسته شاوخوا لس طالبان چې په یوه تیوتا موټر کې سپاره ووزموږ کلي ته راغلل او له ټولو یې و غوښتل چې ویشل شوې مرستی دوی ته ورکړو، موږ ونه منله، هغوی په قهر شول او د اته تنه کلیوال یې له ځان سره یووړ.

موږ هلته شاوخوا او یا ساعته وساتل شو، دولت مخالفینو موږسره ناوړه چلند کاوه، څوځلی یې غوښتنه وکړه چې تسلیم شي او مرستې ورته ورکړو، خو د فیزیکي زورزیاتي څخه یې کاروانخست، په څلورمه ورځ، له غرمې وروسته پنځه بجې به وی چې موږ د راکټ دروند غږواورید، نړیوالو ځواکونو دطالبانو په لور راکټ توغولی و، طالب جنګیالي مخکې له دې چې له سیمې و تښتي، موږ یې خوشې کړو.[81]

یوبزګر سړي کمیسیون ته وویل هغه پیسې چې د ولایتي بیارغوني ډلې هغه د هغې کرنیزې ځمکې په بدل کې چې سږک پرې تیرشو، ورکړې وی، د طالبانو لخواترې بیرته و اخیستل شوی، دغه پیښه د ۲۰۰۸ کال په لومړینو کې وشوه. دغه کلیوال کمیسیون ته وویل:

نړیوالو ځواکو نو زموږ په سیمه کې یو سړک جوړکړ، سړک دډیروخلکو په ځمکو او دکور د دیوالو په ونړولوتیرشو، د ځینو خلکو ونې پرې شوی، نړیوالوځواکونو وویل چې هغوی ددیوالونو او کرنیزوځمکو په بدل کې پیسې ورکوي، زما خپل د کروندې دیوالونه او څوونې په سړک کې لاړې وې، د ولایتي بیا رغوني ډلې د ټول رسیدلي زیان په بدل کې شاوخوا لس زره افغاني یې زما زوی ته ورکړې.

د پیسو له ویشلو دوه ورځې وروسته، طالبان زموږ کلي ته راغلل او پوښتنه یې وکړه چې چاپیسې اخیستي او چېري دي. زه د مازدیګر د لمانځه لپاره جومات کې وم، کله چې بیرته کورته را تللم نو طالبانو و د رولم او یې ویل: ولې دې له بهرنیو پیسې اخیستی دي؟ موږ د ټولو هغه کسانو په اړه چې پسې یې اخیستی دي معلومات لرو، تاسو اوس موږ هغه پیسې بیرته راکړه. ما ورته وویل چې موږ زیان لیدلی، طالب وویل: که ماته زباد شي چې تا له بهرنیو پیسې اخیستی، نو ونې پورې به دې وتړم. په همدی مهال د جومات ملا امام زما ترڅنګ ولاړو او له طالب څخه یې و پوښتل: ایا تاسو مسلمانان هم ټکوی؟ طالب ځواب ورکړ: هو! موږ مسلمانان هم ټکوو، موږ هغه کسان یو چې د کندهار د علما وو د شورا رئیس مولوی فیاض و واژه. [م،ب، ویشتنه، سر پریکونه، د بدن د غړو پرې کول او اعدام_پاس]

ما په هغه ورځ پیسې ورنکړې، مګر زیاتو کسانو اخیستل شوی پیسې سپارلي وی به سبایي بیا طالبان راغلل او وغوښتل چې د ولایتي بیارغوني ډلی ویشل شوی پیسی ورته ورکړو ځکه چې د هغوی سیمه بیز مشرټولی پیسی غوښتي دي، په دې توګه، هغوی ټولی هغه پیسی راټولي کړې چې موږ ته ویشل شوی وی.[82]

IV: د امنیت په تامین کې د دولت پرنه بریالیتوب باورونه:

ددغه راپور چمتوکولو لپاره د څیړنو په بهیر کې، افغانانو د امنیت په تامین د دولت د نه بریالیتوب په اړه زیات شکایتونه لرل، ځیني یې له نړیوالو ځواکو نو هم ناخوښي وو، نه لیوالتیا، د زده کړو او امکاناتو کمښت او له قدرت څخه ناوړه ګټه اخیستنه د دغوشکایتونو لومړنی لیکه جوړوي، په امنیتی ارګانونو کې د فساد او کمزورۍ

---

[81] له ٤٨ کلن سړي سره (نوم یې پټ) د کمیسیون مرکه، کندهار، ۲۰۰۸ کال د فبروري ۱۳ مه.
[82] د (پټ نوم) سره د کمیسیون مرکه، کندهار، ۲۰۰۸ کال د فبروري ۱۳ مه.

همغږی څخه یادونه شویده. خلکو څرګنده کړه چې برسیره پرخرابی امنیتی وضع، دغه ستونزی د هغوی لاسرسی پر عدالت محدودوي او هغوی د قانون د ملاتړ له چتر څخه بی برخې کوي.
که څه هم په جګړیزو شرایطو کې ددې مسالی تشخیصول ستونزمن کاروي چې وخت دولتي ځواکونو د ملکي خلکو د ساتنې لپاره هڅی نه دی کړي او پروګټل شي خو ډیری افغانان په دې باوردي چې کېدای شي د امنیتی وضعیت دښه والي او دهغه سر غړونو په وړاندې مبارزه کې ډیر کار شوی وای چې په دې راپور کې راغلي دي.
د څوتنو ګیله منو افغانانو څرګند وني لولو چې د دولت د کمزوریو یا دونه کوي:
مور د شبنامو په اړه د پولیسو اداري ته شکایت وکړ، هغوی ځواب راکړ: موږ له تاسو سره هیڅ مرسته نشو کولای. موږ د کندهار د ولایتي شورا رئیس ته لاړو او مرسته موترې و غوښته [...] مګر هغه هم څه مرسته و نشوه کړای [...] موږ د ملي اردو له کړنو ناخوښي یو، شپی مهال هغوی پخپله اړه کومي، ګزمي کولو او بهر راوتلو جرات نلري، نړیوالو ځواکونه هم دشپې پرمهال زموږ په سیمه کې ګزمه نکوي.
د کندهار د ښاریو ۳۵ کلن سړي سره مرکه، د ۲۰۰۸ کال د فبروری ۱۳ مه.
پلارمي چې ګواښل شوی و، په دی اړه یې پولیس خبر نکړل، ځکه چې پولیس نشي کولای زموږ په سیمه کې وګرځي او یا داچې عملیات ترسره کړي، هغوی یوازی د ولسوالی د دفتر په د ننه کې دي او برسیره پردې چې پولیس د خلکو په ځورونه او ربړونه کې لاس لري او بدی اخلي د خلکو د باوروړنه دي.
د یوه شل کلن ځوان سره مرکه چې دا یې لومړی د طالبانو لخوا و ګواښل او بیا وروسته د هغوی لخوا ووژل شو. د ۲۰۰۸ کال د فبروری ۲۵ مه د ۲۰۰۷ کال د جون په میاشت کې یو کلیوال د «ت» په نوم خپل خورریې د یوې شخصي لانجې له امله وواژه، د وژل شوي زوی پرپیښه د زرمت ولسوالی پولیس جز کړل او له هغوی یې د عدالت او مرستی غوښتنه وکړه. مقاماتو هغه ته وویل: پولیس به هغه وخت ستاسوسیمی ته راشي چې د هغوی امنیت تاسو تامین کړئ، که تاسو دغه کارونکړې موږ هم له تاسو سره هیڅ ډول مرسته نشوکولای.
د ۲۷ کلن سړي سره مرکه، د پکتیا ولایت، د ۲۰۰۸ کال د فبروری ۲۵ مه د سړک د غاړی د ماین په چاودنه کې چې د امریکایی او افغان پولیسو د ځواکونو سره نږدی د ۲۰۰۷ کال د اکتوبر په میاشت کې وشوه، زماورور په خپله کرونده کې په بزګری بوخت و، له چاودنې وروسته، پولیس له خپلوموټرو راښکته شول او په ړندو فیرونو یې پیل وکړ. دووپولیسو زکا پروروړهم فیرونه وکړل خو خطا لاړل، وررور مي و دریدو او لاسونه یې پورته کړل او لوړ غږیې وویل. زه بې ګناه یم، بمب مانه دې چولي زه دیوځ یوپخواني منصبوال یم، دولت لپاره کارکوم، زه څرنګه داکار وکړم. ددې ټولو سره، کره، د پولیسو سره په خبرو اترو کې، یو یا دووپولیسو زما د ورور په ټټر دری مرمي فیر کړې او هغه یې وواژه. د قومي مشر ولسوال ته زنګ وواهه او د پیښې له خبرتیا وروسته یې د قانوني کړنو غوښتنه وکړه. ولسوال قومي مشرته وویل: تاسو ولي شکایت کوئ، څومیاشتې مخکې د سړک د غاړی ماین په چاودنه کې څوتنه پولیس ووژل شو، آیا ما دهغه په اړه تاسوته شکایت وکړو؟
د ۲۸ کلن سړی سره مرکه، د پکتیا ولایت، د ۲۰۰۸ کال د فبروری ۲۸ مه [...] د زابل ولایت امنیتي وضعیت ډیر خراب دې، هلته د قانون واکنې نشته او پولیس هم روزل شوي نه دي، د هغوی څوتنه په جنایتونو کې لاس لري او د قدرت څخه ناوړه ګټه اخلي.
په کندهار کې د قومي مشرسره مرکه، د زابل له ولایت څخه، ۵۹ کلن، د ۲۰۰۸ کال د فبروری ۱۳ مه
VII: پای او پایلې
د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کمیسیون د هغه ځاني او مالي زیانونو له امله چې په روانو شخړو او نښتو کې ملکي خلکوته اړول کېږي، خپله ژوره اندیښنه څرګندوي. همدارنګه د ورځ په ورځ زیاتیدونکو تلفاتو او ګواښونو په پایله کې د افغانستان عادي ملکي وګړي، نارینه، ښځې او کوچنیان زیات زیان لیدلی دی. کمیسیون د ښکېلو غاړو، دولتي پوځي ځواکونو، نړیوالو پوځي ځواکونو او دولت مخالفینو له کړنوڅخه اندیښنه لري. په تیروراپوررونو کې د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کمیسیون له بشري حقونو څخه هغه سرغړونې اوریدلي او غندلي چې ددولتي او نړیوالو ځواکو نو لخوا ترسره شوي. دا راپور هم د هماغه پخوانیو راپوررونو لړی ده چې په ځانګړې توګه د دولت مخالفینو پرسرغړونو څرخي.
دولت مخالفین ددې لپاره چې د خلکو ملاتړ ترلاسه کړي، پرملکي خلکو د فشار له هرې وسلې څخه کار اخلي، دولت مخالفین ددې لپاره چې خلک خپل ملاتړته اړلري دګواښ، تښتونې، د بدن د غړو د پری کولو او وژنوڅخه ډډه نکوي. په دغه راپورکې، کمیسون بې شمیره قضیې ثبت کړي چې د اسلامي شریعت د افغانستان د کورنیو او نړیوالو قوانینو پرخلاف دي.
کمیسیون له هغو کسانو چې په دغسی کړنو کې لاس لري، غوښتنه کوي چې د افغانستان عادي خلک او هغه کسان چې په شخړو ښکېل نه دي، خپل هدف و نه ګرځوي.

په دغه راپور کې، مستند شوي سرغړونو د افغانستان د خلکو د ټوليزو ستونزو دانځورولو يوه برخه ده. په داسی حال هغه ستونزو چې د افغانستان له هغې سره مخ دي، له دې لاناوړه دي. په ملکي هدفونو بريدونه دويرې فضارامنځته کوي او پايله يې داده چې خلک د خپلو ټولنزو او اقتصادي حقونو څخه چې د کار د حق، روغتيا او ښووني او روزني د حق په ګډون دي بې برخې شي.
د نورو راپوروونو سره په پيوند کې چې د دولتي او نړيوالو پوځي ځواکونو پرسرغړونو څرخي دا جوتيزي چې په اوسينو شخړو او نښتوکې زيان منونکې خلک، د افغانستان عادي خلک دي. ملکي خلک د دوولاروپه ټاکنه کې چې يا د دولت او د دولت د ملاتړ ځواکونو سره او يا د دولت مخالفينو سره مرسته وکړي، متردد دي، د دواړو اړخونو سره مرسته ددې مانا ورکوي چې د هغوې ژوند د بل اړخ لخوا له ګواښ سره مخ دی. کميسيون پخپلو وړانديزونو کې د طالبانو له مشرانو او نورودولت مخالفو ډلو، د افغانستان دولت نړيوالو پوځي ځواکونو، د اسلامي کنفرانس سازمان او ملګروملتونو ټولني څخه غوښتني دي چې په بيړنيو اقداماتو سره په افغانستان د ملکي خلکو د رواني وژنې او ګواښ مخه ونيسي کميسيون اسلامي علماوو، و قومي مشرانو او خلکو له مشرانو هم غوښتي چې د افغانستان دخلکو د ساتني لپاره اقدام وکړي. د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کميسيون يوځل بيا په ښکېلو خواووغړ او ټينګار کوي چې د افغانستان د خلکو نيکمرغي ترهرڅه لوړه و بولي.
وړانديزونه
١_ د طالبانو او نورو وسله والو ډلو مشرتابه ته !
خپلوسيمه ييزو قوماندانو او جنګياليوته بيړنی امرصادر کړي چې:
ټول هغه بريدونه چې د شريعت او د بشرپاله نړيوالو قوانينو سره سمون نلري او ناپوځي کسان هدف ګرځوي او يا په ټولنه کې ويره خپروي، و دروئ او په ځانګړې توګه له جنګياليو څخه و غواړي چې د شبنامو له خپرولو، د ملکي کسان د تښتوني فيرونو، حلالولو، د بدن د غړو له پرې کولو او اعدام څخه لاس په سرشي.
ټول هغه بريدونه چې د اسلامي اصولو او د بشرپاله نړيوالو قوانينو پرخلاف دي، ملکي املاک هدف و نه ګرځوي او په ځانګړې توګه له جنګياليو و غواړي چې له ويجاړتيا، تښتوني په ملکي املاکو لکه ښوونځي، بشري او روغتيايی مرستو، د بشري تدارکاتو پرليکو او پرملکي پرمختيايی پروژو له بريدونو لاس واخلي.
د ټولو هغه بريدونو مخه ونيسي چې له تفکيک پرته د ناپوځي او ناانډوليزې مرګه ژوبلی لامل ګرځي.
له پوځي عملياتو وروسته په هغه ځايونو کې چې ملکي کسان او سيږي د پناه اخيستلو څخه ډډه وشي.
د هغه تغبيرونو او دلايلو د خپريدو مخينوي وشي چې د ملکي کسانو وژل توجيه کوي.
روغتيايي کارکوونکو او د انسان پاله او بشري خدمتونو وړاندې کوونکو ته اجازه ورکړای شي چې له ويری او خنډپرته، اړينو کسانو ته روغتيايي او بشري انسان نپاله مرستې ورسوي.
٢_ د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته !
د نړيوال بشرپاله قوانينو سرغړونکي او بولندويانو لکه د نورو قضيو د سرغړونکو په څير چې، په دی راپور کې مستند شوي، محاکمي ته راوکاږي.
٣_ د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او نړيوالو پوځي ځواکونو (ايساف او د ائتلاف ځواکونو) ته !
ډاډ بايد ترلاسه کړي چې:
د افغانستان ملي اردو، نړيوال پوځي ځواکونه او نور امنيتي ځواکونو چې ددولت مخالفينو پرضد مبارزه کې ګډون لري په اغيزمنې همغږی مرستی سره د ملکي کسانو د ساتنې په اړه ډير تر ډيره هڅه وهاند وکړي. د پاڅون پر ضد عمليات د بشري حقونو له معيارونو او نړيوالو بشرپاله قوانينو سره په سمون کې ترسره کيږي او ددغه قوانينو سرغړونکي ترقانوني پوښتنی لاندې راځي.
د افغانستان ملی اردو، د افغانستان ملي پوليس، نړيوال پوځي ځواکونه او ټول امنيتي ځواکونه چې د دولت مخالفينو پر ضد عمليات ترسره کوي د نړيوالو بشري حقونو له معيارونو او نړيوالو بشر پاله قوانينو څخه خبرتيالري.
ټول هغه عمليات چې د دولت مخالفينو پر ضد تر سره کيږي لکه هوايي بريدونه، د کورونو لټول، نيوني، امنيتي ګزمی، د استخباراتی معلوماتو راټولونه د پوځي اډوموقعيتونه او دبنسټيزو پرمختيايي پروژو اجرا په داسی بڼه تر سره کيږي چې ملکي کسانو ته لږترلږه زيان متوجه کړي. پوځي هډې بايد په داسی ځای کې موقعيت ونلري چې ملکي سيمی د تفکيک او انډول پرته د بريدونو له ګواښ مخ کړي.
٤_ د ملګرو ملتونو سازمان او نورو ته چې د بشري مرستو او پرمختيايي پروژوکي ونډه لري!
ډاډ بايد ترلاسه کړي چې د بشري مرستو او دپرمختيايي پروژو چمتو کوونکي د ځايي سياستونو په پام کې ساتلو سره خپل کارونه داسی پرمخ بوځي چې ملکي کسانو او ملکي شتمينو ته لږترلږه زيان رسيدونکي دي.

۵_ سلامي کنفرانس سازمان ۵۱۲ ته
د دولت مخالفو ډلوټولي هغه کړني چې ملکي کسانو ته زيان رسوي او د اسلامي شريعت او نړيوالو بشرپاله قوانينو پرخلاف دي و غندي.
٦_ حقوق پوهانو او اسلامي علماووته!
د دولت مخالفو ډلوټول هغه فعاليتونه چې د اسلامي شريعت پرخلاف، ملکي وګړي هدف ګرځوی په کلکه و غندي.
روښانه کړي چې د ملکي کسانو ځان او مال ته زيان رسول منع دي.
۷_ قومي مشرانو، مذهبي لارښوونکو او نورو مخوروته چې دولت سره په تعامل کې نه دي:
د هغو منفي کړنو له اغيزوڅخه چې په ټولنه کې ويره او ترهه خپروي او په قصدي ډول ملکي کسان هدف ګرځي له خپلو انديښنو څخه طالبان او نورې دولت مخالفې ډلې خبرې کړی.
د هغو منفي کړنو له اغيزوڅخه چې ملکي شتمني لکه ښوونځي، بشري او روغتيايي مرستی، د ملکي تدارکاتو ليکي او ملکي پرمختيايی پروژی په قصدي ډول هدف ګرځوي له خپلو انديښنو څخه طالبان او نورې دولت مخالفزې ډلې خبری کړی.
د هغو حمله کوونکو اوله تفکيک پرته بريدونو له منفي اغيزو څخه چې د ملکي کسانو د تلفاتو لامل ګرځي له خپلو انديښو څخه طالبان او نورې دولت مخالفې ډلې خبری کړی.
له عملياتو وروسته په ملکي سيمو کې د پناه اخيستلو د منفي اغيزو څخه له خپلو انديښنونه طالبان ا و نورې دولت مخالفې ډلی خبری کړی.
د هغو تعبيرونو او د لايلو له منفي اغيزوڅخه چې د ملکي کسان دوژني او ګواښ د توجيه لامل ګرځي له خپلو انديښنو څخه طالبان او نورې دولت مخالفې ډلې خبری کړی.
له طالبانو او نورو دولت مخالفو ډلوڅخه غوښتنه وکړئ چې په خپلو بريدونو کې له زيات احتياط څخه کارواخلي د ملکي کسانو ځان او مال ته د زيان رسولو مخنيوې وشي.